V1 77 9/10

ACBAR Resource & Information

د جهاد پلوشه

د افغانستان د اسلامي جمعیت د جنوب غربي ولایاتو میاشتنۍ خپرونه

(۱۰ـ۹)

بسم الله الرحمن الرحيم

الله لا إله إلا هو الحي القيوم لا تأخذه سنة ولا نوم له ما

في السموات وما في الأرض من ذا الذي يشفع عنده إلا بإذنه

يعلم ما بين أيديهم وما خلفهم ولا يحيطون بشيء من علمه إلا بما شاء وسع

كرسيه السموات والأرض ولا يؤده حفظهما

وهو العلي العظيم

بسم الله الرحمن الرحیم

د جنوب لویدیځو ولایاتو د مجاهدینو میاشتنۍ خپرونه

د جهاد پلوشه

لومړی کال نهمه او لسمه ګڼه د ١٣٦٦ هـ ش د لیندۍ او مرغومي میاشت

د جهاد پلوشه

مسئول مدیر

عصمت قانع

پستي ادرس

پیښور پاکستان

پسټ بکس نمبر ٣٤٥

فهرست

مخ	لیکوال	سرلیکۍ
	اداره	۱- انتخاب د انقلابیونو تعهد ته ...
		۲- د افغانستان د مجاهدینو د اسلامي اتحاد اعلامیه
	ع ، قانع	۳- یو حل بیا انګریزی تجربه !
	سمندر غوریانی	٤- استاد خلیلی و مسأله زبان پښتو
		۵- د مجاهد لارښود استاد ربانی ، لنډ پیژندلیک
	دکتور ظاهر صدیق	٦- شرط مجاهد
	ګل آقا شایق	۷- د علامه سید جمال الدین افغانی ...
	ابو امان	۸- ستا د عشق له وینو ډک شول ...
	غضنفر	۹- تا نک یا تن اکتور؛ انتخاب دشوار...
	لیلی ملک تیموری	۱۰- انتظار
	شفق ستانیزی	۱۱- د ساینس په پرمختګ کی د ...
	طارق بریالی	۱۲- د حضرت عمر (رض) وینا وی
	موسیٰ محمد	۱۳- لنډۍ
	مرکه	۱٤- دښمن په یوه غشي دوه...
	ملکزاد	۱۵- تصویری از دل
		۱٦- شعر او هنر د انقلاب په ټک لوړی کی
		۱۷- نامه های وارده

خطاط : خان بهادر «برچوال»

انتخاب د انقلابیونو

تعهد ته چلنج ورکوي.

د افغانستان د مؤمن او باتور اولس د وینو او شهادت څپاند خوځښت اوس ـ اوس د وخت او زمان ډېرې نازکې او حساسې مرحلې ته رسېدلی دی. د دې وېره شته چې نړیوال کفر زموږ د شهادت ـ روزونکي اولس د دیارلسو لکو بچو په وینو پالل شوي آرمان د تاریخ د دوران معبر په کږلیچونو کې له خپل مسیر څخه پر بله لاره واړوي.

هو! وخت او زمان یو ځل بیا زموږ د ربړېدلي اولس په وړاندې د جهاني کفر د ظالمانه او بې رحمانه توطیو د تدارک ننداره کوي. او جهاني کفر یو ځل بیا د شیطنت په جال او نیرنګ سره زموږ د اولس د ابدي وژلو نا ځوانمردانه توطیه تر اجرا لاندې نیسي.

د نهو کلونو راپدې خوا افغان مؤمن او باتور اولس یوازې او ـ یوازې پخپل کور کې د خپل واک او اختیار په غوښتلو سره د دنیا د یوه ستر نظامي قدرت له خوا په عامه توګه وژل کېږي، او دغه عامه وژنه لا اوس هم روانه ده.

یو ژوندی اولس چې نه غواړي د کفر او استعمار جغ په غاړه کې یوسي، یو ژوندی اولس چې د اور او وینو په توپانونو کې هم د مړیتوب ـ

او غلامئ په زنځير کې راښکېل نشو.

یو ژوندی اولس چې ژوند د عقيدې له پاره غواړي او د خپل ژوندانه د چاپېريال او ماحول ټوله اداره دخپلو عقيدوي اصولو تر قانونيت لاندې لټوي.

په همدې حق طلبانه موقف کې دا حُل د سياسي تړ وېږ په زنځيرونو کې راښکل کېږي.

مکار او جبار دښمن چې د اور او وسو په تويان کې يې دافغان مومن ملت د ژوندي خوځښت روانه بهېدونکې لارې نه کړه، او سيمې د پېرنګي استعمار شرمېدلې تجربې ته مخ وروا ړاوه، او د تزويرونو تر پردې لاندې يې د خپل مقصديت حصول ته بدې راونغاړلې.

په تأسف سره بايد و ويل شي چې د سياسي حل په روانه ډنډوره کې چې هيڅ ډول عملي ارزښتونه يې تر اوسه پورې نه دي په کوټه شوي د مهاجرينو د کور ته بېرته د وتلو ډ يوې مرکو نې او وېرلړلي خوش فهمي ښکاره کړ ځېدلې دي او زموږ د جهاد د دروانې پروسې ځيني خپل مقصدي دوستان يې هم تر منفي اغېزې لاندې نيولي دي.

په واقعيت کې د سياسي حل په نوم روانه توطيه او د هغې تر شا د ژ نيو د خبرو اترو شپږ کلنه پروسه د خپل دوران جهت په اوږدو کې يو ډول مقصدي او متوازي تګلاره لري چې هدف يې دوېرلړلو او ربړ بېدلو افغانانو په ځوربدلي وطن کې د اسلامي انقلاب دروان خوځښت مخنيوی دی. موږ د اسلام او افغانستان له قسم خوړلو دښمنانو څخه هم دغه طمعه درلوده او لرو يې. خو د انقلاب او جهاد-

د تداوم او بالاخره وروستي سپیڅلي هدف ته د رسېدو په لاره کې د جهاد د کاروان د ټولو مسافر ینو له پاره حاضر وخت د نازک چلنج اعلان ورکوي.

موږ اوس د دولاروپر سر ولاړ یو:

د انقلاب د تداوم پر لاره د خپل ارمان د حصول له پاره مزل ته دوام ورکړو؟

او که د بې مسلکه او بې جهته سیکولرو بزم ته تر توغ لاندې د یو ملیون شهیدانو له قاتلانو سره د روغې جوړې پر تغر کښېنو؟

اوس لو انتخاب د انقلابیونو تعهد ته چلنج ورکوي.

پرچم
گورباچوف
خلق

سیاسي تبصره

نړیوال اسلامي اُمت او خصوصاً د جنوبي آسیا مسلمانان د افغانستان د مؤمن او باتور ملت د ستر او تاریخ جوړوونکی جهاد له پېښو او قضایاؤ سره د سرنوشت او تقدیر د پیوستون یو نه شلېدونکی ربط لري. او دغه ربط د تاریخ د اوسني پړاو له منځې یو ګواښ کوونکی ربط هم دی او نه باید د دې په وړاندې د عدم کفایت او تماشاچي برخورد معامله وشي، د همدې اصل پر بنیاد - پر افغانستان باندې را بلوسیدلې کنار کوشش او هڅه کوي چې؛ د جنوبي آسیا د مسلمانانو عامه ذهنیت د افغانستان د جهاد په وړاندې تخدیر او تخریب کړي.

روسانو د دې لپاره چې په سیمه کې یې د مسلمانانو ذهنیت اغوا کړي او تخریب کړي وي.

د سږني عیسوی کال په وروستیو میاشتو کې یې د پاکستان د تحریک استقلال د ګوند مشر مارشال محمد اصغرخان د پاکستان د پیپلز ګوند پخواني سکرتر مولانا کوثر نیازي همدارنګه د هندوستان د مسلمانانو ځینو مخورو او سپین روږو اشخاصو ته بلنه ورکړه چې د سرو لښکرو په کلابندۍ کې را ایسار کابل وګوري او هلته له ماسکو بچو بې واکه او کاواکه ګوډاګیانو سره د افغانستان د رهبرۍ؟!! د کادرونو په څېره کې وګوري.

ښکاره او په ډاګه ده چې له داسې اقداماتو او د ډیپلوماتیکو هڅو څخه په کابل کې د روسي پراختیا غوښتونکو عزایمو د پرمختګ لپاره ګمارل شوی رژیم ډول ډول استفادې کوي.

له جنوبي آسیا څخه کابل ته رابلل شوي هیئتونه په کابل کې د روسي ګوډاګیانو د سولې ـ آمن او ملي پخلاینې ؟ !! لپاره په ډېره عاجزانه او مظلومانه څېره کې ـ اشتهالرونکې ګورې او د وی په ویرلړلي او بلاوهلي افغانستان کې د سولې دامر له تحقق سره ډېر خواخوږي ورته معلومېږي څو د غه وفدونه او بهرني هیئتونه چیرې هم نه شي کولای چې د کابل له علاقه دارۍ څخه بهر حتیٰ د بګرامیو او شیوه کیو سیمو ته هم لاړ شي په هرصورت ـ د دښمن داسې اقدامات کولای شي زموږ د جهاد د نړیوال حمایت ـ تائید او ملاتړ یو اړخ ته منفي اغېزې لاندې ونیسي.

موږ په دې هکله یو مثال وړاندې کوو؛

کله چې د پاکستان د استقلال د تحریک رئیس هوائي مارشال محمد اصغرخان د کابل له یوه اوه ورځني سفر څخه د طورخم له لارې خپل هیواد ته راستنیده په لنډي کوتل کې یې اخبار لیکونکو ته وویل چې د افغانستان واکمن او خلک د پاکستان له خلکو او اولس سره د نیکو علایقو او ښو اړیکو د ټینګولو لپاره جدأ ـ ښې هیلې لري . « البته داښې هیلې به په هغو بموټو کې نغښتي وي چې دلته چوي»

له دې پورته خبرې څخه به نتیجه ګیري وکړو!

ایا دا خبره په واقیعت کې که هر څومره په کذب باندې اتکا لري ، اما په ځانګړې ډول سره زموږ د جهادي رهبرۍ لپاره څومره زیانمنه واقع کیدای شي!

موږ تر اوسه پورې د جنوبي آسیا د سلها و ملیونو مسلمانانو د تاوده حمایت او مرستې د لا ټینګښت او د خپل جهادي واقیعت د سیما او څېرې د ګټور انعکاس

لپاره څه کړي دي؟

موبن هم کولای شو د غه وفدونه او هیئتونه خپلو خیمو ته و د رو - او حقیقت لکه څرنګه چې دی هغسې ورته وبښیو- که اصغرخان د کابل له تګ سره کولای شي دحقایقو د تحریف، لپاره د روسي اهدافو وسیله وګرزي - نو د نورو سازمانونو او ګوندونو رهبران خو د حقیقت د سیما په لید لوسره بالکل کولای شي چې د دغسې بې اساسه پروپاګندونو اغېزه خنثی او له مینځه یوسي او د خپل ضمیر ږغ ته په خپلو پرګنو کې پراخ او ګټور انعکاس ورکړي- سوال دلته دی چې موږ ولې داسې نه کوو؟

ما په خپلو لیکنو، متبصرو او مقالو کې چې له دې مجلې نه پرته په نورو جریدو او اخبارونو کې خپرې شوي دي په څرګنده داخبره سپینه او په ډاګه په پښلي کړی ده چې :دروسانو د ډیپلوماتیک کار او فعالیت اساسی محور په اوسنی وخت کې د کابل رژیم ته د قانوني وجاهت پر پیداکولو باندې راچورلي- او که په دې کار کې روسان بریالي شي- خپل ډیر ستر هدف به یې په ډیر اسانه تاکتیک سره ترلاسه کړی وي.

د جنوبی آسیا په اسلامي ټولنو او خصوصاً زموږ د منطقې هیوادونو او خلکو کې د افغانستان په ارتباط کار او فعالیت کابل او ماسکو ته د جنوبي آسیا- د وفدونو- هیئتونو د ګوندونو او سازمانونو د مشرانو بلنه او دعوت هم د روسانو په پورتنی ډیپلوماتیک ما نور پورې اړه پیداکوی چې نه باید په سطحي توګه ورته وکتل شي را تلونکی وخت زموږ دی.

او نور د دې وخت نه دی چې بیا هم اکتفا وکړو- چې روس کامیاب نشده- نمیتواند، بلکه حالات او شرایط غوښتنه کوي- چې د نړیوال تائید او حمایت

بنیادونه نور هم پسې ټینګ کړو چې سبا خدا ناخواسته خدای مکړه د یوې - نړیوالې طاغوتي توطیې د رامینځ ته کیدو په صورت کې د خپل ارمان د لاس ته راوړلو لپاره د نړیوالو له اوسني اخلاقي حمایت څخه هم بې برخې شو.

موږ له داسې ډیپلوماتیکو او سیاسي ناروا توطیو څخه د تاریخ په شهادت د یرې ترخې خاطرې لرو.

مسل کاله وړاندې - زموږ مؤمن او بهادر ملت د یوه اسلامي جهاد او اسلامي خوځښت په جریان کې په سلوکې مسل ګټل شوی جهاد د سیاسي توطیو د سیسو په وجه وبابلل شو!

مسل کاله وړاندې زموږ مجاهدو - اجدادو - پلرونو او نیکونو د تکبیر په چیغه د وینو او شهادت په بیه د خپل وخت سوپر ځناور «فرهنګي استعمار»، په ګونډو کړ.

د ښمن د هیواد په ټولو محاذونو کې د شکست او ناکامۍ تریخ غوړپ تر ستوني تیر کړ - هیواد د ځغوی له ککړاو ناولي وجود څخه پاک شو - مجاهدینو د غزا په ډګر کې د ښمن مغلوب کړ.

خو په داسې وخت کې مکار د ښمن خپل اخري ګوزار له یوه بله پلوه زموږ د پلرونو پر لوی جهادي پیکر باندې حواله کړ.

له بخارا څخه یې عبدالرحمن پالیزوان د روس په موافقه کابل ته راووست - هوله تعهداتو او د مریتوب له سندونو سره یو ځای یې د کابل پر تخت نصب کړ.

امیر د استعمار په د سبتور د افغانستان واکمن شو - هغه تر لغمونه زموږ له مجاهدو پلرونو ډک کړل.

امیر زموږ د مجاهدو قهرمانو پلرونو سترګې وایستلې - زموږ د پلرونو د جهاد امیر ملا مشک عالم ته یې د ملا موش عالم خطاب ورکړ.

امير زمونږ جهادي پياوړي هيرو سردار محمد ايوب خان غازي چې د انګليسي استعمار په وړاندې يې زمونږ د باتورو او باغيرته پلرونو ستر جهادي خوځښتونه او حرکتونه رهبري کړو بيرته د دښمن د حاکميت قلمرو ته ورتيل واهه- سردار محمد ايوب خان غازي برطانوي هند ته تبعيد شو.

امير پنجده روسانو ته وسپارله او د هيواد پرلوړون يې د بيلتون کرښه وکښله د وطن واحد وجود يې دوه ټوټې کړ- او بالاخره امير چې د پرد و توافق په وجود راوړی ؤ- د پرد ولپاره يې هر څه وکړل.

نن بيا هماغه تاريخي تجربه تکراريږي- منتها په لږ توپير سره.

په هغه وخت کې د هندي برطانوي وايسرای او تزار ترمينځ د توافق په نتيجه کې د ښمن ته د اوږو پوزه پيدا شوه-

خو نن دغه پوزه د واشنګټن او ماسکو ترمينځ د يوه توافق په نتيجه کې د شرميدلي د ښمن پر مخ جوړيږي، ځکه چې د اصغرخان او نيازي د سفرونو امکانات هم يوازې روسان نه- بلکه نورجهتونه اماده کوي او نجيب ته د ظاهرشاتر لمن لاندې د مصئونيت جواز لټول کيږي.

د افغانستان د مجاهدینو
د اسلامي اتحاد اعلامیه

په دې ورځو کې چې له یوې خوا په افغانستان کې د جهاد سنګر و نه داغ دی ، روسانو او پلویانو یې پیل کړی یوځل بیا د مظلوم مسلمان افغانستان د ملتو په وینو لوبې وکړي ، هلته یا تې خلک یا جبراً خپل غلامان کړي او یا یې مړه ، بندیان او هجرت ته مجبور کړي ، او له بلې خوا لګیا دي د خپل سور پوځ د ایستلو خبرې کوي .

ځینو خلکو ته چې پر دی جنګ اختر سبکاري سبه موقع په لاس ورغلې د مجلس میوه یې د افغانستان په هکله خبرې دي ، یو یو څه او بل ، بل څه وایي . یو وایي په افغانستان کې به د نجیب حکومت پاتې شي ، خو بل وایي نه خیر ، مجاهدینو چې دو لس دیارلس لکه شهیدان ورکړي حکومت به هم د وی تر لاسه کوي ، هغه بل وایي چې که مجاهدین شهیدان شوي ، نو روسانو هم قربانۍ ورکړي ، نو حکومت به د دواړو په ګډه وي ، خو هغه بل فکر کوي چې په دې قصابانو کې غوا مري سبه دا ده چې ظاهر شاه صاحب ور ته راشي . څوک فکر کوي چې بین المللی قوه-

دې اوضاع کنترول کړي او عام انتخابات دې صورت و نیسي چې هرچا ته دا مازغه په لاس ورغی. ممکن داسې نور تصورونه هم موجود وي.

هو! نه یوازې دا چې عام خلک په دې خبر و خپل ساعت تېروي، بلکې په رسمي منابعو کې هم په دې قضیه خبرې روانې دي. بین المللی مجلس دا رأی په اکثریت د روسانو فوري بې له قید و شرطه ځنډه وتل تصویب کړل او د (۱۲۳) ملکونو غوښتنه روسانو او د روسانو مزدورانو رد کړه.

په جنیوا کې مذاکرات پیل شوي دي، نه خو مجاهدین پکې چا پوښتلي او نه خو مجاهدینو ته د منلو وړ دي. او دا لاځه چې وخت په وخت د ځینو ژورنالیستانو له خوا د مختلفو سوالونو سره مخامخ کېږو. متأسفانه چې ځینو خلکو ته خیالي باغو نه جوړوي او داسې نظر ورځنه اخلي چې بالأثر یې تنظیمونو سره مختلف مواقف نیسي او د روسانو پلویانو ته دېر ورپېښېږي له یاره پوره موقع په لاس ورځي، ځکه نو لازم مو ولیدل چې د افغانستان د مجاهدینو د اسلامي اتحاد موقف په دې وسیله اعلان کړو، او خپل دریځ په دې موقع خلکو ته وښیو:

۱- ټول مجاهدین په دې متفق دي چې هیڅکله هم د روسانو د موجودیت په صورت کې خپله سلاح له اوږو نشو سپکته کولای او هیڅکله هم د نجیب او د نجیب د ملګرو حکومت نشو منلای، او نه خو دوی ته د افغانستان په حکومت کې د ځای ورکولو حق منلی شو، ځکه دوی د روسانو په ټینګونو راغلي خلک دي او د افغانستان د ټولې دربدرۍ مسؤلیت د روسانو سره برابر په غاړه لري. ټولې هغه محاولې او طرحې چې پکې د روسانو مزدورانو یو تن هم حکومت کې د منلو نتیجه ورکړي، زمونږ په نزد رد او د روسانو په ګټه دي، او خپل جهاد ته به دوام ورکوو.

زمونږ قضیه زمونږ ترفیصلې پورې اړه لري. هیڅ کوم اسلامي یاغیراسلامي حکومت اودولت ته اجازه نه ورکوو چې زمونږ وصایت یا ولایت وکړي، بلکې ددوی داسې عمل زمونږ سره دد ښمنۍ معنا ورکوي.

(۲) په افغانستان کې داسلام اوکفر ترمنځ جنګ دی او داسې کوم عنصر نشته چې نه مسلمان اونه کافروي، بلکه دافغانستان مسلمان ملت ټول مجاهد دی، نو دیوه بې طرفه موضوع مطرح کول زمونږ په قضیه باندې ملنډې وهل دي.

(۳) دایوحقیقت دی چې حکومت له یوه شخص څخه عبارت نشي کېدای اونه یوڅوتنه حکومت او ملت اداره کولی شي، بلکې د هر حکومت له پاره دیو نظامي قوت څخه ملاتړ ضرور دی، نو دیوه داسې کس را منځته کول چې هغه خپل نظامي قوت نه لري په افغانستان کې په هغه صورت کې چې دمنږدور روسي لښکرې نظامي قوت ومنل شي پخپله دروسانو له پاره دېر دې لاندې کارکول دي، اوهمدا ران یو داسې حکومت ته بین المللي عسکر په لاس ورکول دا معنا لري چې دا حکومت د دې ملت حکومت نه دی او دا مجاهد ملت به ورسره جنګ کوي اوکه دهغه حکومت ملاتړ د مجاهدو څخه غواړي - نو بیا ددغه شانې حکومت مطرح کول بې معنا دي.

(٤) دافغانستان د مجاهدینو اسلامي اتحاد په پوره صراحت اعلانوي څوک چې کوم قسم حکومت یا رژیم په مونږ تحمیلوي او دې مجاهد ملت ته دیوه حکومت دجوړولو مخه نیسي مونږ یې دروسانو مرستیال او دجهاد دښمن بولو.

نن که دخپلوګنتو له پاره ځینې دولتونه تاندوهي چې دسولې په نوم زمونږ لاسونه وتړي او دښمن ته موقع په لاس ورکړي. اسلامي اتحاد-

په پوره دقت سره دغه اوضاع مطالعه کوي او دغه شاني حرکات د -
مجاهدینو په ګټه نه بولي .

زمونږ په جهاد سیاسي لوبې نشو زغملای او باید هر څوک وپوهو
چې د ظالمانو ملاتړ بالاخره د دې سبب ګرځي چې ظالم په همدو مسلط شي.
په سبایي چې د لوی خدای (ج) څخه دو پرې پرځای له روسانو څخه ووېرېږو.

(۵) لنډه داچې د افغانستان د قضیې حل د روسانو تر پوره او فوري
بلا قید و شرطه وتلو او د حکومت جوړول په کامله توګه چې د دی مجاهد
ملت حق دی، مسلمان مجاهد ملت ته تر سپارلو پورې اړه لري او مونږ
به دې مطلب ته د رسېدو له پاره خپلې مبارزې او -
جهاد ته دوام ورکوو.

والسلام

۱۳۶۶/۱۰/۲۶ هـ ش

۱۶ جنوری /۱۹۸۸

استاد سمند رغوریانی

استاد خلیلی و مسئله زبان پشتو

مرحوم استاد خلیل الله خلیلی همانطور که هنرمند عصر و زمان خود و همه عصرها و زمانه ها است همانند رجال بزرگ هر عصر و دوره، احیاناً زمینه های بحث انگیزی برای عدهٔ از مردم روزگار خود میشود که در پارهٔ موارد، قضاوت های دور از واقع و حکمیت های غیر منصفانه را، مردم روزگار شان نسبت به آنان روا میدارند. و یا که مرتکب آن میشوند. از جملهٔ این مسایل یکی هم رابطهٔ استاد خلیل الله خلیلی با زبان و ادبیات پشتو است.

درین اواخر و پس از رحلت استاد و حتی در مراسم یاد بود و بزرگداشت از مقام استاد، از طرف دوستان و باز عجب تر اینکه به حوالهٔ نزدیکان استاد این مساله به استاد نسبت داده شد که گویا استاد خلیل الله خلیلی، میانهٔ نه چندان استوار با زبان و ادبیات پشتو داشته است. وحرف هائی ازین قبیل به ضرس قاطع میتوان گفت که استاد خلیل الله خلیلی ازینگونه تهمت ها مبراء است. چون در اصل انگیزه هائی که مردم وگیریم که استاد را خدای ناخواسته به تعصب

دربرابر یک زبان وا میدارد، یحتمل این باشد که شخص و یا اشخاص نسبت به زبان مردمی ازخود تعصب به خرج میدهد که به همان آل و تبار و تیره، کدام نسبت و قرابتی نداشته باشند، حالانکه استاد خلیل الله خلیلی خود از قوم صافی بود و پشتون. و چگونه روامیداشت که زبان قوم و مردم خود را دوست نداشته باشد. و باز خود را از همان قوم و تبار بداند چونکه زبان یکی ازعناصر قوم و ملت است.

دلیل دیگر برعلیه این شائعه اینست که استاد خلیل الله خلیلی که به زبان دری شعرمی سروده ونثر می نوشته، این زبان در داخل افغانستان به وضع وحالتی نبوده که نسبت به دیگر زبانهای موجود در افغانستان، از یک موضع مغلوب و یا پائین ترازسطح فرهنگی دیگر زبانها، به خاطر دفاع از خود در برابر تهاجم دیگر زبانها و سلطه مطلق آنها، تعصب از خود نشان بدهد ویاعکس العمل های هیجانی و غیرعقلانی را تبارز دهد. و دلیل زنده وگواه روشن تسلط زبان دری در افغانستان، همین هنر خود استاد خلیل الله خلیلی است. واین وضع زبان دری نسبت به دوران معاصراست. واگر نسبت به گذشته های زبان دری ببیند بشیم ما بایدتصریح کنیم که نخستین شعر در زبان دری از حنظلهٔ بادغیسی روایت شده و بادغیس یکی از مناطق افغانستان است.

اینطور هم اتفاق میافتد که یک زبان از بیرون بر یک ملت بواسطهٔ - بیگانگان تحمیل گردد واین زبان تحمیلی و صادرشده ازخارج به عنوان زبان بیگانه، در برابر زبانهای بومی و محلی، از خود تعصب به خرج بدهد و بالمقابل تعصب زبانهای دیگر را برانگیزد و باعث گردد - و زبان و

ادبیات دری و یا پشتو چنین وضع و حالتی نداشته اند. البته عناصر و افراد و - اشخاصی بوده و هستند که خود هیچگونه هنری و یا حرفه و شغلی را نتوانسته اند دست و پا کنند ، کوشیده اند و باز هم میکوشند که از طریق برانگیختن تعصبات قومی و نژادی و آرا و ... ره جاهلیت به نان و نوائی برسند که نباید چنان استاد والامقام و هنرمندی را در زمرهٔ چنین گروه بی هنران جای داد که این خود ظلم به تاریخ مردم و ملت ما است .

فکر میکنم در تمام دورهٔ حیات فرهنگی و سیاسی استاد، قرینه و سند وشاهدی یافته نمیشود که دلالت برین داشته باشد که استاد نسبت به زبان وادبیات پشتو بی مهری نشان داده باشد.

مگر برسم امانت ازیک رویداد و خاطره سیاسی که با استاد داشته ام - مجبورم با نظرداشت مدلول آیهٔ کریمه (وَلاَ يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلاَ شَهِيدٌ) مطلبی را باز گوکنم که هرچند دیگران نیز ازان آگاهند. اما طرح آن درینجا به خاطرآنستکه دیگر برادران بی خبر ما از موضوع که اینگونه قضاوت ها را در حق استاد روا میدارند شاید م که زمینه چنین سؤ، تفاهمی راکسان به اصطلاح نزدیکان استاد برای ایشان ازینجا وازین قضیه فراهم دیده باشند که در اوائل حکومت داکتر یوسف که مامور تشکیل کابینه شده بود ، دستور داشت تاکه طرح یک قانون اساسی جدیدی را ارائه دهد که قدرت خانوادهٔ سلطنتی را محدود گرداند ویابه تعبیر آنوقت حکومت از سلطنت جدا شود. همان بود که درطرح اولی قانون اساسی که تاهنوز منشر نشده بود ، ماده (۲۴) همان قانون مشعر برکاهش قدرت از خانوادهٔ سلطنتی و بخصوص از شخص محمد داود بود که مطلب عمدهٔ قانون اساسی همان وقت را تشکیل میداد در همان قانون و شاید که درهمان

طرح اولی آن مساله رسمی ساختن زبان پشتو بمثابه زبان رسمی نیزجای داده شده بود. و آنطوریکه می شنیدیم «! موقعیت این مساله (در تصنیف) ورده بندی مواد قانون اساسی در همان خاکهٔ اولی آن تغییر یافته بود و پیشتر از مادهٔ جنجال بر انگیز شماره «۲۴» آورده شده بود.

طی نشست هائی که با استاد فقید داشتیم، استاد بیشتر از یکبار، این مطلب را تذکر دادند که این تغیر موقعیت ها و جا بجا کردنها از جانب هرکس وهر مقامی که برده باشد، هدف سیاسی خاصی دارد که میخواهد مسالهٔ را در صدر جای بدهد و دست به تقدیم و تاخیر بزند و برای ایجاد مناقشه وجدال و تشنج برای انگیزهٔ خدمت به زبان پشتو تا آن حد زمینه فراهم بسازد وموضوع را دامن بزند که تاموقع رسیدن (صحبت) راجع به مادهٔ «۲۴» دیگر اختلاف ها بالا گرفته باشد و شاید که تصویب مادهٔ «۲۴» به تاخیر بیافتد. و اینطور احساس میشد که شاید کسان وابسته به داود، چنین یک جابجائی را اعمال کرده باشند. این هشدار استاد در آنوقت نزد بعضی کسان و یا کسانی به گونهٔ تلقی شد که گویا استاد با زبان پشتو میانهٔ خوبی ندارد و. . و. . این یگانه موردی بود که شاید مردم امروزی که تشنه طعنه بر بزرگان هستند «! این تبصره سیاسی استاد را در آنوقت و زمان «! امروز نقل قول کنند و برای مردم دیگری که به جریانهای سیاسی آنوقت آشنائی ندارند و یا نسبت به آن بیگانه اند، این عقیده و نظر را تلقین کرده باشند که گویا هنر استاد باین خلاصه میشده که میخواسته از زبان مردم خود انکار کند و یا نسبت به آن کم لطفی و بی مهری از خود نشان داده باشد.

این تمام آن داستانی بود که من به خاطر ادای حق و دینی که استاد بر

من و امثال من در چنین مواردی دارند، ادا کرده باشم.

من آنچه شرط بلاغ است با تو میگویم — تو خواه از سخنم پند گیر و خواه ملال

د مجاهد لارښود استاد برهان الدين رباني لنډ پېژندليک

د جهاد پلوشې د رڼو لوستونکو!

د مجلې اداره هيله لري چې د مجاهد لارښود استاد برهان الدين رباني بشپړه او هراړخيزه بيوګرافي ترتيب او د رڼو لوستونکو ته وړاندې کړي ځکه چې د مجاهد لارښود ژوند د ۱۳۵۲ کال د سرطان د بد شګونه تر ټولې راپديخوا د هيواد د ټولې اسلامي نهضت د لارښوونې او رهبرۍ په مقام کې د وخت له ډېرو پېچلو او نازغمه کړاوونو سره مخامخ شو.

نو له همدې امله زموږ لپاره هم مشکله وه چې د جهادي مقاومت د وسله وال جريان له پيل څخه بيا تر حاضره لحظې پورې د استاد په شخصي ژوندانه او د هغه په قيادي حيات کې د رابرسيره شويو پېښو او حوادثو هراړخيز معلومات راغونډ کړو - البته دا کار پوره څېړنې او علمي ګروېږنې ته اړتيا لري.

موږ فعلاً دغه بيوګرافي چې د جهاد د پيل په لومړيو وختونو کې د کابل پوهنتون د يو شمير مبارزو محصلينو او محصلاتو لخوا ترتيب شوې وه د رڼو لوستونکو ته وړاندې کوو.

او په آينده کې د فرهنګي کوميټې په مرسته کوښښ کوو چې د استاد بيوګرافي په بشپړه توګه خپره کړو.

مجاهد لارښود استاد برهان الدين رباني د ارواښاد محمد يوسف زوی په ۱۳۱۸ هجری لمريز کال کې د بدخشان ولايت د مرکز فيض آباد په يوه علمي او



منوره کورنۍ کې سترګې غړولې دي.

استاد په ۱۳۲۵ کال کې خپل لومړنۍ تعلیمات د بدخشان ولایت د فیض‌آباد په منځنۍ ښوونځي کې پیل کړل.

استاد ۹ کاله د لومړنۍ او منځنۍ زده کړې په جریان کې د خپل ښوونځي تر ټولو زده کوونکو لایق او ذکي پیژندل شوی و.

د لومړنۍ او منځنۍ زده کړې تر بشپړتوب وروسته استاد بر سیره پر دې چې د ښوونکو لخوا په نورو ځانګو کې تعلیم ته هڅول کیده د خپل ذاتي ذوق له مخې یې د دیني علومو ځانګه انتخاب کړه.

استاد د ۱۳۳۴ هجري لمریز کال په پسرلي کې د دیني علومو د زده کړې لپاره د کابل په ابوحنیفه مدرسه کې چې هغه وخت د شرعي دارالعلوم په نوم یادیده داخله واخیستله.

وروسته له دې چې په نوموړې مدرسه کې یې تعلیمات تر دوسمې ټولګې پورې په لومړۍ درجه سره بشپړ کړل په ۱۳۳۸ هجري لمریز کال کې د لوړو تعلیماتو لپاره د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې شامل شو.

استاد د لوړو زده کړو په وخت کې د پوهنتون په چاپیریال کې د یوه فعال - ممتاز او بادرکه علمي په صفت وپیژندل شو.

استاد په پوهنتون په دوره کې زموږ د لوی اسلامي نهضت فرهنګي او کلتوري مشرتوب سازمان ورکړ او د یوه ځوان - فعال او بادرکه لیکوال په توګه یې د مبارزې لاره پرمخ بیولو ته پسې واخیستله.

استاد په ۱۳۴۱ هجري لمریز کال کې د کابل پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځي څخه د لومړۍ درجې ډیپلوم واخیست او سمدلاسه په نوموړي پوهنځي کې د

استاد په توګه ومنل شو.

مجاهد لار ښود فقط دوه کاله په نوموړي پوهنځي کې تدریس وکړ. په ۱۳۵۴ هجري لمریز کال کې د مصر د عربي جمهوریت په مشهور او ستر پوهنتون «الازهر» کې د لوړو تعلیماتو د بشپړتوب لپاره په عالي زده کړو بوخت شو - په دې وخت کې په مصر او عموماً په ټوله اسلامي نړۍ باندې د شیطاني او مزدورو حکومتونو د ناروا حکمرانۍ توره او لوغړنه تیاره راپرېوتې وه. په مصر کې د ناصر د شیطاني رژیم د جنایاتو او جرایمو لړۍ روانه وه او په مقابل کې د اخوان المسلمین د نړیوال غورځنګ فعالیتونو هم جریان درلود.

استاد د ناصري اختناق په توره دوره کې له مسلمانانو انقلابیونو څخه په مبارزاتي ډګر کې بېل نه شو او د دعوت د روند مسئولیت یې د پاخه تفکر، بینش او علمي دیدېدنې رڼا کې سرته ورساوه.

استاد د عالي تحصیل په دوره کې د دعوت او مبارزې په ډګر کې ډېر پاخه او متین قدمونه پورته کړل د همدغو فعالیتو وجه وه چې استاد د پوهنتون په چاپېریال کې د یوه ځلمي اسلام پېژندونکي، پوه، مدبر او متفکر داعي په توګه وپېژندل شو- او د پوهنتون ټولو مبارزو حلقو هغه ته د قدر او احترام په سترګه کتل.

استاد په ۱۳۴۷ کال کې له نوموړي پوهنتون څخه د فلسفې او اسلامي عقیدې په څانګه کې د ماسټرۍ عالي درجه ترلاسه کړه او د دوکتورا د اخیستلو لپاره یې ملت خپل نوم ثبت کړ.

استاد د دوکتورا د علمي درجې لپاره د «عبدالرحمن جامي د ژوندانه علمي او فلسفي اړخونه» ترعنوان لاندې خپل علمي تیزیس ولیکه.

د وطن ته له راستنیدو څخه وروسته په کابل پوهنتون کې د فلسفې د-

استاد په ترگه ومنل شو.

علاوه پردې په پوهنتون کې یې د نورو مضامینو تدریس هم ورکاوه-
او د پوهنتون د څیړنو او تحقیقاتو دیپارتمنت غړی هم ؤ-

استاد په دې وخت کې څو علمي او تحقیقي اثار ولیکل له هغه جملې څخه د-
«تیوري سیاسي اسلام» او «تشریح عقاید معتزلی ها-»، د دوو علمي اثارو نوم
اخیستلای شو.

استاد په ۱۳۴۹ کال کې د علمي څیړنو په غرض د دوومیاشتو لپاره د ترکیې
دانقرې پوهنتون ته سفر وکړ او په هغه موده کې له ترکي ژبې سره هم په پوره
توگه اشنا شو.

استاد د فرهنگي مبارزې په ډگرکې-

مجاهد لارښود استاد برهان الدین رباني زموږ د هیواد د اسلامي نهضت
هغه پیاوړی قاید دی-چې د علمي تفکر په رڼا کې یې د اسلامي دعوت او مبارزې څرنگوالی
تشخیص کړ- خپله ټولنه،د ټولنې چاپیریال ، د دعوت خصوصیت - د هغه څرنگوالی او د-
خپل مبارزاتي ماحول ټول اړخونه یې درک کړل او بیا یې د دعوت د بهیر د لارښوونې
او رهبرۍ دروند مسئولیت پر اوږو واخیست.

استاد زموږ له نورو جها دي مشرانو سره یو خاص او څرگند توپیر لري او
هغه دا چې استاد د وخت او زمان د حوادثو د تصادم په نتیجه کې نه دی راپورته
شوی بلکې زموږ د اسلامي نهضت د لومړني منظم جمعیت لومړنی منتخب امر دی-چې
د نهضت موسس په خپله بیعت ور سره کړی دی- او خپل باور یې پرې څرگند کړی دی.
استاد تر هرڅه مخکې د نهضت او انقلاب د فرهنگي او ثقافتي بنسټ له ټینگښت

سره علاقه درلوده او په دې لاره کې یې نه ستړی کېدونکی هلې ځلې کړې دي.

استاد لا هغه وخت چې محصل و، زموږ د هېواد په تیاره افق کې د یوه ځلېدونکي ستوري په څېره کې راڅرګند شو. د علم - پوهې - معرفت او اسلامي شناخت په رڼا کې یې د دعوت د خپرولو په لاره کې قدمونه پورته کړل او د یوه نامتو لیکوال په توګه یې د قلم په وسیله د دعوت د پر مختګ لپاره نه هېرېدونکی خدمتونه وکړل.

د استاد د فرهنګي مبارزو پیل له ١٣٣٦ هـ لمریز کال څخه وړاندې تاکلای شو زموږ پوه او پیاوړی لارښود د فرهنګي فعالیت د شروع کېدو له دورې څخه اسلام د یوه انسان پالونکي او ژوند جوړونکي مکتب په توګه معرفي کاوه.

د استاد په ټولو لیکنو کې د تعهد او مسؤلیت رنګ له ورایه بریښېده او په ټولو لیکنو کې یې فقط یو هدف تعقیب کېده چې دغه هدف هماغه د اسلام د غوره افضل او ستر دین معرفي کول و. د دې ادعا د ثبوت لپاره کولای شو چې د وخت د خپرونو او مطبوعاتو کلکسیونونو او مجموعو ته مراجعه وکړو.

استاد په ١٣٤٩ هـ. ش کال کې د شریعیاتو د مجلې له تاسیس سره سم د نوموړې مجلې د مدیر په توګه د دعوت د پرمختګ له هدف سره په کار بوخت شو.

د هغه وخت د پوهنتون د دورې ټولو وروڼو ته معلومه ده چې د شرعیاتو مجله د استاد د مدیریت په دوران کې د اصیل او ډینامیک اسلامي روح په لرلو سره د ستړو او زبښتناکو فرهنګي کارونو ذمه واري په ښه توګه سرته ورسوله.

دغې مجلې د پوهنتون پر ځوان قشر باندې فوق العاده مثبت تاثیر وکړ او یو زیات شمېر ځوانان یې عملاً تنویر کړل، د شرعیاتو مجلې وکولای شول چې زموږ د خوار او ځوریدلي ولس په محکومو طبقو کې د خوځښت او بیدارۍ روحیه پیاوړې کړي او د خلاصون د لارې مسیر مشخص او وټاکي.

- نور بیا -

شـرط مجاهد

در دوره ها و سده ها ، حلقه ها وگروه های در کهن دیار افغانستان بوده و زیسته اند که زندگی بی پیرایه و قلب های با اراده داشته اند این‌ها در روزگار صلح وصفا حامي بیچاره گان و ناتوانان و سرکوب جفاکاران و ستمگران بوده اند.

نام این‌جمع بی توشه در هر جا به نیکو یی یاد میشد ، از ذکرنام شان دل های افسرده شاد میگشت و دست های ستمگران میلرزیدند.

این ها را همیشه ناتوانان یار و مددگار خود می یافتید و ستم پیشگان خود را از سر راه شان دور میساختند.

شمار این ها در سده های تاریخ در پهنای وطن ودر تاریخ کهن ، اندک نیست. افتخار ما درین است که ازین چهره ها و ازین نامها مابه شطر لنگشت نداریم - بلکه غرور و ایمان مردم ما ازین فرقه های بی توشه وازین چهره های پر غرور زیاد داشته در هرجا داشتمت و در هر دوره داشته است.

در دره ها و وادی ها ، در کوهپایه ها و دامنه های ما - در دشت‌،

و میدان های ما ، این چهره های پرابهت از جوانمردی و صلابت خود کارنامه ها بجا گذاشته اند.

قصه ها و داستان های داشته اند که تاریخ و مردم ما همیشه با آن افتخار میکنند عیاران خراسان و بلخ - پای لچهای قندهار کاکه های کابل شیربچه های زابل ، جوانمردان نیمروز و برهنه پایان امروز ، همه چهره ها صف ها و دسته های برده اند ، مردانه ، جانباز و فداکار که دلیرانه در برابر زورگویان ستمگر و سفاکان شاخ برسر می استادند و از بینوایان و مظلومان دلجویی میکردند و دست جفای ظلم ازسرمظلوم دور نگهمیداشتند این ها گروه های ازجوانان و نوجوانان هرمحل بودند که رموز زندگی و روش اخلاقی شان روی ترحم و سرسپردگی استوار بود و خوش بردند در رنج و محنت خود با جانبازی و پایمردی خود ابرو و عزت مظلومان را تامین میکرد ، وای بساکه در روزها دشوار همین کانون های کوچک مردی وغرور به هسته های بزرگ مقاومت در برابر وحشت وکشتار تجاوزگران بیرونی مبدل شده و چهره های بزرگ از جمله این ژنده پوشان برهنه پا برخاسته که این ها همه مایه غرورما - تاریخ ما ومردم ماست.

از میان این همه غرور ها و این همه شیر بچه های میهن فقط یک - مثال میدهیم - ازکهن دیار قندهار از پای چهل زینه از کنار ابهای خروشان هریوا - آنجا که در روزگار رنگین و پرغرور جوانی شیربچه های محل بنام پای لچ ها کنارهم می نشستند ، درد دل میکردند ازغیرت و شهامت حرف میزدند واز گذشت روزگار قصه های سرمیدادند قصه های

از جانبازی و مردانه گیها حمایت ها و سرکوبی ها حمایت از ناتوانان و بینوایان و سرکوبی زورگویان و ستمگران این پای لچ ها را رسم چنین بود که یکی برای نشان مردانگی با دیگری مصاف میدهد در پایان رو یارویی با حریف به جای شکوه و شکایت بزند، دور از نظرها با همدیگر مصاف دهد.

نشان زخم وضربه رابحیث نشان غیرت و مردانگی نگهدارند، تا آنجا که حتی خود بنام استقامت و پایمردی همزمان باتیغ های بران بر دست و پای خویش زخم زنند و اما اثر از درد و سوزش برچهره‌ی شان نمایان نشود.

و اما امروز رسم این پای لچ های بلند هت بدل شده است این ها دیگر احساس جانبازی و سرسپردگی را در شیوه های قبل نشان نمیدهند- حضور واحد های روش وحشی در دامان پاک ما من مقدس انها وسیله خوبی برای تبارز جانبازی و سرسپردگی آنان شده است. و هم همین واحد های متجاوز وسیله خوبی شرط در نمایش غیرت و جوانمردی.

اکنون وقتی درجمع شیرمردان قندهار درجبهات نبرد در سنگرهای جهاد در ساعات راحت در روی سنگ ها وصخره های وطن با هم می نشینند، احساس ایمانداری و اندازهٔ فداکاری شانرا به شیوه تازه و به حرف تازه - بیان میدارند، انکه میخواهد بگوید درصف فداکاران و سرسپردکان قراردارد و هیچگونه ترس از دشمن در دل او نیست خطابش به حریفان همرزم وبه برادران همسنگر این است.

بیاید فداکاری خود را به حمله بر دشمن نشان میدهیم، دیگری میگوید برسر پوسته دشمن میرویم،

وآن دیگری میگوید برپوسته شهری د شمن حمله می کنیم.

. وآن دیگر غیرتش را به این عبارت بیان میکند: بیاید بر فرقه دشمن و یا میدان هوایی حمله ی کنیم.

این ها هجوم بر پوسته ها قرارگاهها و فرقه های د شمن را شرط تبارز پایمردی و سرسپردگی شان در جهاد علیه الحاد قرار مید هند - وآن شیوه قبلی مصاف به تنهایی آنهم دور از منظر ها و ابادیها جایش را به هجوم مردانه به قشله ها وفرقه های دشمن داده است.

اینها شمشیرهای برهنه و عریانی بودند و هستند بر روی ظلم وجفا ،کبر و ریا - بیداد گری و تجاوزگری.

این ها بادست های خالی اما قلب‌های قوی نمرود وطن ما نماینده احساس ما و نشان غرور ماست.

این ها با همه‌سادگی از نیروی ایمان وغیرت مردم ما نمایندگی میکنند اینها نه در فکرسرداری اند ونه درخیال باداری نه درفکراند رختن اند ونه درخیال نبودن فقط میخواهند محیط و وطن شان از وجود ناپاک دشمن ملحد پاک شود فقط میخواهند آزاد و با سرهای بلند در وطن پر غرورشان قدم زنند - روی خاک آن قدم زنند - روی رنگ آن بنشینند واز هوای پاک آن تنفس نما یند این ها عقابان همیشه در سنگر اند ، پاسداران راستین وطن و فدائیان دین و شرف ما.

ایډیټ او سمون
گل اقا شایق

د علامه سید جمال الدین افغاني (رح) له وینـاؤ څخه اقتباس

ان الله لا یغیر ما بقوم حتی یغیروا ما بانفسهم، ذلک بان الله لم یک مغیرا نعمة انعمها علی قوم حتی یغیروا ما بانفسهم الآیة

د معنیٰ حاصل:- خدای پاک جل جلاله په ورکړې نعمت کې څه تغیر نه راولي مګر داچې دوی په خپل لاس د نعمت په اسبابو کې تغیر راولي او داسې روش غوره کړي چې د خدای جل جلاله د نعمت د زوال موجب وګرزي.

دا د حکیم خدای جل جلاله د کتاب هغه آیتونه دي چې مونږ ته د حقې او سمې لارې لارښوونه کوي او په دې کې له ګمراهانو پرته، بل څوک شک او تردد نلري. ایا خدای پاک جل جلاله په خپله وعده او وعید کې تخلف کوي؟ پداسې حال کې چې پاک خدای جل جلاله له ټولو وعده کوونکو رښتینی او د خپل وعید په انجام کې تر هرچا قادر دی.

ایا خدای پاک جل جلاله خپل پیغمبران په دروغو رالیږلي، او لا یې خپل بندګان غولولي او د ګمراهۍ په لارې روان کړي دي نعوذ بالله. ایا خپل ښکاره آیتونه

یې عبث نازل کړی او یا پیغمبرانو په ده د دروغو افتراء کړې ده او یا یې بهتان پرې کړی دی؟ او که نه خپل بندګان یې په داسې رمزونو مخاطب کړي چې نه پرې پوهیدل او په داسې اشارو یې پرهولي دي چې نشوای ورته رسیدلی؟ ایا په داسې ترګه یې مسې لارې ته رابللي چې عقل یې ورته نه رسیده «نستغفرالله».

ایا خدای پاک جل جلاله قرآن په داسې ژبه نازل کړی ندی چې هیڅ کږوالی پکې نشته او هرڅه یې په تفصیل نازل کړي ندي؟ (د خدای پاک جل جلاله صفات له دی نه پاک او ذات یې له دې نه ډیر لوړ دي چې ظالمان یې وایي).

خدای پاک جل جلاله فرمايي: (ولقد كتبنا في الزبور من بعد الذكر ان الارض يرثها عبادي الصالحون). یعنې موږ په زبور کې لیکلي وو چې د ځمکې میراث زموږ د صالحو بندګانو دی.

(ولله العزة ولرسوله وللمؤمنين): او داچې عزت د خدای او دده د رسول او مؤمنانو لپاره دی.

او داچې فرمايي: (ودين الحق ليظهره على الدين كله وكفى بالله شهيدا): یعنې خدای پاک جل جلاله د اسلام حق دین نازل کړی دی ترڅو چې یې په ټولو دیانو غالب کړي او په دې کې د خدای پاک جل جلاله شاهدي بس ده.

دا هم هغه وعدې دي چې پاک خدای جل جلاله په خپل هغه کتاب کې ورکړې دي چې هیڅ تأویل نه مني او نه یې څوک د تأویل اراده کوي. خدای پاک جل جلاله مسلمانانو ته د عزت او نصرت وعده ورکړې او د خپلو وعدو د انجام لپاره یې د قیامت تر ورځې لار ورته اواره کړېده په داسې توګه چې لوړتیا یې پای، او عزت یې انتها نلري.

مسلمان هغه امت وُ چې له یوې هیرې سیمې نه راولاړ شو او د لوړتیا وروستي پوړۍ ته ورسیده، تر دې پورې چې لوړی، ژورې، وچې او لمدې یې لاندې

کړې او لویو ملتونو د حیرت ګوتې ورته په غاښونو کړې ټول خلک ورته حیران شول او د چا فکر نه ور رسیده چې اسباب یې څه وو او په څه دې درجې ته ورسیدله خو د حق خاوندانو ته دا پته لګیدلې وه چې د غو خلکو د خدای لوری او د خدای لاره نیولې وه او خدای هم د دوی سره مل وو....

د غه امت په لومړي سرکې څه ذخیرې مخیرې نه درلودې او تش لاسي او بې وسیلې وُ. د جنګ اوجګړې وسایل ورسره نه وو او نه یې زاد او راحله درلوده. خو سره له دې یې د قوي ایمان په زور د مجهزو ملتونو صفونه مات او ملکونه یې لاندې کړل. نه د مجوسو برجونو او خندقونو دفع کړی شو. او نه د روم او فارس محکو کلاګانو او سنګرونو، نه یې د لارو صعوبت او سختۍ مانع شوې او نه یې په عزم او همت کې ترپیر راغی، نه یې د تورو ځرو ټوټو ته سترګې ونیوې او نه یې د پادشاهانو جلال، شان او شوکت په زړونو ویره واچوله، نه یې له وسلو و ویریدل او نه یې له راز راز صنایعو، نه یې د فنونو او قوانینو پروا وکړه او نه یې له پخوانیو سیاستمدارانو و ډار شول. هر مملکت ته چې به ورننوتل د څه شي پروا یې نه کوله او هرڅه به سپک ورته بریښیدل، د هیڅا په زړه کې نه ګرځیدل چې د غه لږه ډله (له اسلام نه وروسته عرب) به د لویو لویو دولتونو د مانیو ارکان ولړزوي او د هغوی نومونه د مجد او لوړتیا له صفونو نه وغورځوي د هیچا په خیال کې هم نه ورتله چې د غه وړوکی ملت به بلکې د غه وړوکې ډله به په دوی داسې قدرت مومي چې د هغوی له زړونو نه به د زړګونو کلونو عقائد و باسي او خپل دیني عقاید به د هغو په ځای پکې متمکن کړي، په داسې ترګه چې د اسلام اوامرو ته به غاړه ږدي او عادات او شرایع به یې مني. مګر دا ټول وشول او د غه مؤمن امت له خپل ضعف سره سره د غې درجې ته ورسیدچې بل هیڅ امت ورته رسیدلی

نه دی .

هو ! د غه قوم چې په څه یې له خدای پاک جل جلاله سره عهد کړی ؤ- وفا یې وکړه او خپل پوره اجر او مزد وړی یې واخېسته او په دنیا کې یې عزت وموند او په اخرت کې یې سعادت په برخه شو.

د دغه امت شمېر من تقریباً په سوو ملیونو ته رسیږي او حکم یې له اطلانتیک نه نیولی تر چینه پورې ده چې ښه خاوره او سمسوره ده او آباد ملکونه لري خو سره له دې گوروچې ښارونه یې منهوب او اموال یې مسلوب دی او نور پرې مزې او چړچې کوي ، پردي ملتونو یې یو د بل د وروسته لاندې کړي او محکمه یې توته توته سره ویشي ، مملکت په مملکت یې سره بیلوي او ولایت په ولایت یې سره ویشي . او اوس یې نه څوک خبره اوري او نه یې څوک اطاعت کوي تر دې پورې چې پاتې ملکونه یې هم په ویره کې دي او هره ورځ یوه بلا پرې نازلیږي او ویره یې له امید نه زیاته ده .

دا هغه امت ؤ چې لویرلویو دولتونو به جزیه ورکوله او خپل ژوند به یې ساته ، او نن یې مشران خپله بقا په دې کې گوري چې د دغو پردیو مملکتو لمنوته لاس واچوي او د هغوی په حمایت خپل ځانونه او خپل مقامونه وساتي . هی افسوس دا څه مصیبت دی ؟ !

د دې هبوط علت او د دې انحطاط او سقوط سبب څه شی دی ؟ ایا موږ د خدای په وعده بدگمانه یو (العیاذ بالله) ؟ ایا موږ د خدای پاک جل جلاله له رحمت نه نا امیده شوي یو ؟ او گمان کوو چې زموږ سره یې د دروغو وعده کړیده (معاذ الله) ؟ ایا موږ د خدای د مرستې په وعدو کې چې زموږ یې کړیده شک لرو ؟ بلکې دا یو هم نشته او نه به وي .

نو په موږ لازم او ضروري دي چې خپلو نفسونو ته وګورو او خپل ځانونه ملامت کړو چې موږ همغه لاره پریښې ده کومه چې خدای پاک جل جلاله موږ ته ښودلې ده، ځکه چې پاک خدای په خپل بالغه حکمت سره دامتونو د پیشرفت لپاره سمې لارې وضع کړې دي «ولن تجد لسنة الله تحویلا» خدای پاک جل جلاله په خپلو آیتونو کې موږ ته لار ښودنه کړېده چې هیڅ یو ملت د خپل عزت او قدرت له عرش نه پریوتی نه دی او نه یې نوم د هستۍ له تختې نه محوه شوي دي، مګر دا چې د الهي سنت له لارې منحرف شوی وي ځکه چې پاک خدای د کوم قوم په عزت، قدرت، رفاهیت، ښه عیش، امن او راحت کې تغیر نه راولي، مګر دا چې د هغه قوم په خپلو عقلونو، فکرونو، عقائدو، اعمالو، کړو وړو او بصیرت کې تغیر راولي او د نورو قومونو په باب د خدای له کړونه عبرت وانخلي کوم چې د خدای له سمې لارې اوښتي او تباه شوي دي، موږ مسلمانانو چې د عدل او امر بالمعروف او نهی عن المنکر لار پریښوده او د بصیرت او احتیاط او حکمت له چوکاټ نه ووتلو نو له دغې تباهۍ سره مواجه شولو.

په عمل کې له استقامت نه کاږه او خبرو کې له صدق نه محروم شولو او له سینو نه مو راستي او درستي ووتله او له شهواتو نه مو عفت پریښود او په حق باندې مو غیرت و نه خوړ او د حق ملاتړ مو و نه کړ او د حق او حمایت په لار کې مو یو د بل مرسته ونکړه نو له هغه څه سره مخامخ شو چې موږ او تاسو یې بالمشاهده په سترګو وینو - حق مو پریښود او خپل همتونه مو د حق د کلمې د اعتلاء په لار کې په کار وانه چول او د باطلو خواهشونو پیرو او د فاني خواهشاتو او شهواتو په ډنډ کې ډوب شولو او غټې ګناوې مو وکړې او اوس هم پرې ککړ یو.

نو خلاصه دا چې په موږ لازم دي چې خپلو زړونو ته مراجعه وکړو او خپل مدارک و آزمایو او خپل اخلاق ښه کړو او دخپل روش لار ملاحظه کړو او دخپل نفس د تزکیې لپاره موږ ټول د یوه داسې ټولګي سره ارتباط ونیسو لکه څنګه چې شهید حسن البناء دخپل نفس د تزکیې لپاره غوره کړی وُ او هغه ټولګي چې نن په یقیني او بالمشاهده تجربو ثابت دی هغه د (جماعت تبلیغ) ټولګی دی، د الله تعالی نه هدایت غواړو چې سمه لاره راوښیي. فهوحسبنا ونعم الوکیل.

ارماني ځوان ته!

ځوانه وینه دې چمن ته ګل بدن شه
دآرزو غوټۍ دې مسکه پرګلشن شه
چه دې سر د پسرلي په ارمان داو کړ
خوار وطن دې دخوږو وږمو وطن شه

ع - قانع

ابرامان

ستا د عشق له وینو ډک شو ځیګرونه

پورتنی عنوان د افغانانو د یوه «بابا» عنوان دی چې د وطن په مینه کې یې پورته کړی دا سې «بابا» چې په ځوانه ځوانۍ کې د هیواد په لسهاوو «سپین ږیري» د القب ور کړ او خپل مشر یې وټاکه دا ځکه چې افغانان د جرګې فیصله د خپل ملي ژوند په برخه کې وروستنۍ او قاطعه فیصله ګڼي او د شننې پرمخ تللې نړۍ د مقتدرو سناګانو او پارلمانونو وظیفه یې له سوونو کلونو راهیسې تر سره کړې ده.

هو ! د هیواد په تاریخ کې یوه حساسه مرحله وه، نادر افشار چې پوره - لس کاله یې زموږ هیواد او د سیمې هیوادونه د زور او وحشت له لارې لاندې کړي وو او ډیر انسانان یې بې ګناه وژلي وو، د خپلو درباریانو د یوه قیام له امله د ۱۷۴۷ع کال د جون په ۱۹ نېټه ووژل شو او افغانانو ته د دې موقع برابره شوه چې خپل سرنوشت په خپله وټاکي ، د قومونو او قبیلو سپین روبي سره راغونډ شول د مشر د ټاکلو لپاره یې جرګه جوړه کړه او په آزاده فضا کې آزاد بحثونه پیل شول .

پدې غونډه کې چې د کندهار د «شیرسرخ» په زیارت کې شوې وه د بیلابیلو قومونو مشران سره راغونډ وو چې مشهورې څېرې یې دا دي : نورمحمد خان غلجي محبت خان پوپلزی ، موسی خان اسحق زی ، نصرالله خان نورزی ، حاجي جمال خان بارکزی

او نور زيات سپين ږيري ، خوانان ، خانان او ملنګان . جرګې پوره اته ورځې غونډې وکړې او مشران برېالي نه شوې چې يو د بل واکمني ومني ، نور محمد خان له دې کبله چې د زيات عمر ، تجربې او په غلجي قبيلو کې د زيات نفوذ څښتن و د دې کار لپاره ور بلل کېده خو څرنګه چې تند مزاج يې درلود دې دې درانه کار ته ونه ټاکل شو ، د دوهم مقتدر مشر حاجي جمال خان بارکزی وه ده هم زيات نفوذ درلود او له مشرانو سره ويره وه چې تر واکمن کېدو وروسته به استبداد ته لاس وغځوي او د «ملي واکمنۍ» اصول به مات کړي نو ځکه ټولو هڅه کوله داسې څوک وټاکي چې د افغاني مزاج سره سم د جرګې او مشورې په رڼا کې د واکمنۍ چارې سمبالې کړي او مساوات پر دوی باندې استبدادي حکومت ونه چلوي او د ډېرې پياوړې او غښتلې قبيلې څښتن هم نه وي چې مبادا قبايلي شخړې را ژوندۍ کړي .

د پورتنيو اصولو په رڼا کې د مشر او واکمن ټاکلو ډېر غور غورښت جرګې د داسې څېرې د موندلو هڅه درلوده ، د غونډو ټهمه ورځ را ورسيده په دې غونډو کې احمد خان هم برخه درلوده چې ۲۵ کلن ځوان ؤ ، دی د سدوزو له کورنۍ سره مرتبط ؤ خو د جرګې په يوه کونج کې غلی ناست ؤ ځکه چې د سن تقاضا يې همدا وه ، مشران بيا هم په مشرنه جوړېدل ، صابر شاه ملنګ را پاڅيد ، په احمد خان يې ګوته کېښوده چې واکمني ور وسپارله شي ، مشرانو دا پېشنهاد په زړه پورې وګاڼه څرنګه چې له يوې خوا احمد خان اخليق او نرم او په عين حال کې مجرب ځوان ؤ او هم يې قبيله ډېره پياوړې نه وه نو د دې ويره نه ترې کېده پر نورو قبيلو او قامونو دی استبدادي حکومت ټينګ کړي نو په يوه خوله د صابر شاه ملنګ پېشنهاد او انتخاب ومنل

شو او صابر شاه له لنډ پېتي نه دغفو ورځي راوشکول ، دده په دستار کې يې کېښودل او په دې ترګه د يوه پاچا د تاجپوشۍ ملنګانه مراسم ترسره شول او له همدې ورځې نه ځوان احمد خان د احمد شاه بابا په نامه وپېژندل شو او د وطن د مينې خوږې ترانې يې وغږولې :

ستا د عشق له وينو ډک شوه ځيګرونه
ستا په لاره کې بايلي زلمي سرونه

تاته راسمه زړګی زما فارغ سي
بې له تا مې اندېښنې د زړه مارونه

که هر څو مې د دنيا ملکونه ډېر سي
زما څخه هېر نسي دا ستا ښکلي باغونه

د ډيلي تخت هېرومه چې را ياد کړم
زما د ښکلي پښتنو نخوا د غرو سرونه

د رقيب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چې په تورو پښتانه کاګوزارونه

د «فريد» او د «حميد» دوره به بيا سي
چې زه وکاندم پر هر لوري تاخترونه

که تمامه دنيا يو خوا ته بل خوا يې
زما خوښ دی ستا خالي تش ډګرونه

«احمد شاه» به دغه ستا قدر هېر نه کا
که ونيسي د تمام جهان ملکونه

دا انتخاب چې د يوې جرګې او يوه اوږده بحث او غور نه وروسته

شوی ؤ واقعاً چې د افغانستان له پاره ښکاره شو، احمد شاه بابا نه یوازې دا چې د خپل وران شوي وطن شیرازه یوځل بیا راټوله کړه بلکه ویې کړای شول چې افغانستان ته لوړ نوم ورکړي حتیٰ د ګاونډیو مسلمانانو د نجات سبب وګرځي او د روغ او طبیعي افغانستان په جوړولو بریالی شي.

جرګه زموږ د تاریخ یو اصیل او نه ماتیدونکی ارزښت دی - له دې ارزښت سره د افغانستان په اسلامي دوره کې د خلافت اصل هم   مل شو چې جرګې ته یې نوره هم پیاوړتیا او غښتلتیا ورکړه.

که څه هم په راوروسته کې دولتونو په جرګه کې لاس وهنې وکړې او د خپلو شخصي اهدافو له پاره یې استعمال کړه او کمونستانو خو دا موسسه بیخي مسخه کړه خو دې معنیٰ دا نه ده چې جرګه بده ده بلکه هغه اشخاص چې له جرګې نه یې بده استفاده کړې او یا یې د جرګې په نوم مسخ شوې موسسه- د رولې بد او رد دي.

زموږ مجاهد او میړنی ملت چې هم دا اوس له یوه وحشي د ښمن سره لاس او ګریوان دی او تر یو نیم ملیون زیات شهیدان یې ورکړي د دې د پاره دي چې له هیواد نه د روسي یرغلګرو لاس لنډ کړي، د روسانو په لاس کېښېنول شوی کمونستي استبدادي رژیم رانسکور کړي او په ځای یې یو داسې اسلامي رژیم رامنځ ته کړي چې د ټول اولس په خوښه وي او د اولس د لویې جرګې او د نمایندګانو حق پکې محفوظ وي، دوی به هیڅکله د یو استبداد پرځای بل - استبداد ته تسلیم نه شي او داسې طرح به و نه زغمي چې بیا هم د یوه بل مستبد اقلیت حکومت پرې وتپل شي.

تانک یا تراکتور:
انتخاب دشوار برای گرباچیف*

روسیهٔ شوروی بایک بحران شدید بازرگانی مواجه است که میتواند باعث تحولات عمده در پالیسی‌های داخلی وخارجی آنکشور گردد. ریشه‌های این بحران در سقوط ناگهانی قیمت نفت نهفته است که در اثر آن روسیه شوروی با یک کمبود کم نظیر ارز خارجی رو برو ست. علاوتاً این کمبود در حصول روبل از ناحیت صادرات به اروپای شرقی نیز بملاحظه خواهد رسید.

کاهش صادرات، شوروی را مجبور به کاهش تورید تکنولوژی از اروپای غربی و تحدید در ورود ماشین آلات از اروپای شرقی درظرف پنج سال آینده می نماید و این بدان معناست که شوروی‌ها بیش از پیش به تولید ماشین آلات در داخل کشور، متکی خواهند شد.

سیر نزولی صادرات و واردات، پروگرام های جاه طلبانهٔ گرباچیف را برای مدرنیزه کردن کشور تهدید می نماید. با در نظر داشت اندازهٔ واردات سال گذشته شوروی به ۲۵ ملیارد دالر قرضهٔ اضافهٔ درظرف پنجسال آینده

---

* این مضمون توسط Jan Vanous تحریر و در ضمیمه مورخهٔ ۲۹ - اکتوبر سال ۱۹۸۶ "The Frontier — Post" نشر شده است.

ضرورت داردوبدین ترتیب مقدار وام شوروی در آن زمان نسبت به حالا دو برابر خواهد گردد.

اما با وجود این همه قرض سنگین شوروی قادر نخواهد بود که مقدار لازم ماشین آلات را غرض مدرنیزه کردن اقتصاد کشوران اروپای غربی - تورید نماید.

بمنظور نجات پروگرام عصری ساختن کشور گرُباچیف وادار خواهد شد که ازظرفیت تولید تسلیمات بکاهد و به مقدار تولید در ساحهٔ غیر نظامی بیفزاید.

گرُباچیف میداند که او بزودی مجبوراست که از تانک و تراکتوریکی را انتخاب کند. انعطاف شوروی ها نسبت به گذشته در مذاکرات خلع سلاح ناشی ازهمین ضرورت است.

اگر ادارهٔ ریگن درمذاکرات محدودیت سلاح پافشاری نه نماید وبه سخن آنانی گوش فراندهد که نرمش با شوروی را درین مسئله قبول ندارند، شایدگرباچیف حاضر شود که درعوض انعطاف ریگن در مورد سلاح امتیازاتی را در معاملهٔنفت به امریکا بدهد.

ستراتیژی اقتصادی گرباچیف چهار هدف اساسی دارد که حد اقل سه هدف آن از ناحیت بحران بارزگانی کشورش تهدید میشود. اهداف اساسی او از این قرار است.

۱- تسریع رشد اقتصادی روسیه شوروی :- پلان اقتصادی شوروی برای سالیان (۱۹۸٦-۹۰) حاکی از رشد چهار اعشاریه یک (۴،۱) فیصد اجناس تولیدی خالص در سال است که بمقایسهٔ (۱۹۸۱-۸۵) سرعت بیشتری را نشان میدهد در سالیان مذکور اوسط رشد سالانهٔ آنکشور سه اعشاریه یک (۳،۱) فیصدبود.

تحقق پلان کنونی در این زمینه به تحقق در برخی واردات وصادرات که رسیدن به آن ناممکن به نظری رسد ، شدیداً وابسته است.

۲- افزایش قدرت تولید کارگران : - بغرض افزایش قدرت تولیدکارگران و مهارت آنها رهبران روسیه شوروی متقاعد شده اند که به مدیریت بهتر تشویق بیشتر ، دسپلین عالی و مهمتر از همه سرمایه گذاری جدید دربخش تولیدی نیاز دارند.

سرمایه گذاری در سرمایهٔ ثابت طبق پلان امسال ده فیصد افزایش می یابد و در سال آینده نیز این مقدار افزایش حفظ خواهد شد. درسالهای بین هشتاد وهشت ونود به رشد مذکور دو فیصد درسال افزوده خواهدشد. بغرض تطبیق مدرنیزه کردن ، تورید تکنولوژی از اروپای شرقی وغربی شرط اساسی بشمار رفته است. اما کاهش درآمد ارزی ومشکلات درتجارت با اروپای شرقی این کشور را وادار می نماید که هرچه بیشتر به منابع داخلی رو آورد.

۳- بهبودی کیفیت تولیدات : - دیزاین تولیدات شوروی اغلباً از مُد- افتاده همچنین وقبل از معیار معین فرسوده شده و باعث تضیع مواد اولیه ازقبیل مواد خام وانرژی میگردند. و رود تکنولوژی از مغرب زمین یگانه راه سهلی است که شوروی باید آنرا برای ارتقاء کیفیت تولیداتش به ستندرد غرب بپیماند

۴- اطمینان به یک نیروی دفاعی مناسب : - اینگونه تمایل دراغلب- دولتمردان روس که میخواستند بر مسند قدرت بمانند ، بملاحظه میرسد و گرباچیف نیز قدرت نظامی اش را به آسانی فدای اصلاحات اقتصادی ومدنی

نخواهد کرد .

چنین به نظرمیرسد که در مذاکرات محدودیت سلاح شوروی پیشنهاداتی را مطرح می نماید که قبلاً گاهی هم به طرح آن متمایل نشده بود . برای کاهش بار تسلحاتی این کشور به قبول هرگونه متبادلِ تحرکِ د فاع ستراتیژیکی آماده-پنداشته میشود .

مانند اکثر صادر کنندگان نفت ، شوروی نیز از کاهش ناگهانی قیمت نفت گنگس وگیچ شده است . نفت و گاز شصت فیصد صادرات امن کشور را به دنیای غیرکمونیست تشکیل میدهد . شوروی در اوسط سال ۱۹۸٦ درعوض هربیرل نفت ده الی دوازده دالر دریافت میداشته است که بمقایسه قیمت ربع چهارم سال ۱۹۸۵ شصت فیصد کاهش رانشان میدهد . درآن زمان قیمت یک بیرل نفت به-۲۷،۵۰ دالر میرسید

از وقتیکه قیمت گاز نیز بسرعت پائین آمد ، شوروی با مشکلات زایدی در ساحهٔ تجارت رو برو بوده است .

بحران بازرگانی شوروی در نتیجه تنزیل نرخ برابری دالر پیچیده ترشده است ، زیرا صادرات شوروی معمولاً به دالر قیمت می شود و وارداتش به واحد های پول اروپای غربی که طی چندماه گذشته نرخ برابری شان درمقابل دالر افزایش یافته است.

برای روشن نمودن این گونه مشکلات شوروی مثالی می‌آوریم : قیمت یک پرزهٔ ساخت المان غرب که شوروی نیازمند آنست ، پنج برابر نسبت به اوایل سال ۱۹۸۵ افزایش یافته است درحالیکه قیمت نفت شوروی بقیاسی آن زمان شصت فیصد کاهش را نشان میدهد .

بحران بازرگانی شوروی میتواند که بد تر ازین باشد. زیرا عقب ماندن اقتصادی ، کاهش در صدور تسلیحات ، طلاه و پلاتینوم ، نا امیدی در قسمت حاصلات بیشتر زراعتی وضرورت به افزایش واردات مواد غذائی هم چنان بمثابهٔ مشکلات حل نشده باقی مانده است.

کم شدن صدور تسلیحات با کاهش قیمت نفت مرتبط است. زیرا اعضای متعدد اوپک نظیر لیبیا ، عراق و الجزایر از شوروی سلاح در یافت میدارند که درنتیجهٔ سقوط قیمت نفت و فشار های مالی شان قادر به خرید در سطح گذشته نیستند.

فروش تسلیحات بیست (۲۰) فیصد صادرات شوروی را به دنیای غیرکمونیست در بر می گیرد. کسادی بازار فروش اسلحه در خاور میانه کمبود ارزخارجی را بیشترمی نموده است.

تجارت تسلیحات شوروی به جهان سوم در سال های بعد ازسپری شدن سه سال بسیار خوب فروش ، بیست و پنج فیصد کاهش را نشان داد.

اگر استثنائی را در نظر نه گیریم شوروی درظرف ده الی پانزده سال آینده مجبور خواهد بود که در تولیدات صنعتی قابل فروش خود صد فیصدسرمایه گذاری نماید. چون فروش تسلیحات بخش بسیارمهمی را تشکیل نمیدهد. فلهذا شوروی ها به سرمایه گذاری بیشتری در این بخش اشتیاقی نخواهند داشت.

طلاه ، پلاتینوم و الماس نمیتوانند که کمک زیادی درکاهش بحران تجارتی نمایند. شوروی دومین کشور بزرگ صادرکنندهٔ اشیأ قیمتی مذکور درجهان است و قادر نیست که افزایش را در صادرات این مواد را بدون کاهش قیم-

آن ادامه دهد.

از جانب دیگر افریقای جنوبی در نتیجهٔ پرابلم های متعدد اقتصادی و سیاسی به صدور هرچه بیشتر طلاه ، الماس و پلاتنیوم پرداخته است.(اگر رژیم پریتوریا به سقوط مواجه شود و یا هم بحران کنونی شدید تروطولانی ترگردد، درآن صورت ممکن است که خریداران غربی به خریدن واندوختن بیشتر طلاه ، پلاتنیوم والماس راغب شوند و در نتیجه شوروی ها نفع قابل ذکری را بدست خواهند آورد).

شوروی ها امسال امیدوار بود بد که در نتیجهٔ حاصلات خوب غله ارزکمتری را خواهند پرداخت. تورید بیشتر مواد غذائی (که بیست و هفت فیصد مجموع واردات شوروی را از غرب در سال گذشته تشکیل میداد) برای شوروی بدآن معناست که این کشور قادر به وارد ساختن بیشتر تکنولوژی از مغرب زمین نخواهد شد.

امسال طبیعت روی خوشی به گرباچیف نشان نداده است.خشکسالی اثرات منفی خویش را بر نقاط کلیدی زراعت شوروی تحمیل نموده وتخمین زده می شود که تولید امسال غله شوروی یک کاهش بین یکصد و هشتاد الی یکصد و شصت وپنج (١٦٥) ملیون تن را نشان دهد. این مقداراز اندازهٔ تولید غله در سال ١٩٨٥ خیلی کم به نظر می رسد. مقدار تولید غله در سال گذشته ١٩٥ ملیون تن تخمین شده بود.

به اساسی محاسبهٔ من اندازه صدور طلای شوروی امسال ده ملیارد دالر یا نیز از اندازهٔ صدور آن در سال ١٩٨٣ (که به زیادترین صدور در تاریخ طلای شوروی رسیده بود) که به (٣٦،٢) ملیارد دالر رسیدهٔ

خواهد بود.

باید یادآوری نمود که در ذکر ارقام بالائی اثرات را مد نظر نداشته ایم که به علت کاهش نرخ برابری دالر مطرح میشوند.

حتی با وجود (۲۵) ملیارد دالر وام روسیه شوروی نخواهد شد که اندازه وار داتش را به مقایسه واردات امسال حفظ نماید.

عدم تورید تکنولوژی غرب به اندازه لازم، امید شوروی ها را برای تطبیق پروگرام های عصری ساختن کشور به یأس مبدل می سازد. برای تحقق چنین اهداف شوروی ها به وام چهل ملیارد دالری وحتی بیشتر از آن احتیاج دارند که این مقدار هنگفت خارج از امکانات آن کشور است.

باید برای درک اندازه مدرنیزه بودن یک کشور به مطالبات تکنولوژی آن توجه نمود. شوروی شاید بزرگترین کشور تولید کننده ماشین الات باشد اما با وجود آن نمیتواند که به کیفیت تکنولوژی اش اطمینانی داشته باشد علت عمده این امر تولیدات عظیم صنایع نظامی شوروی است.

طبق مطالعات تازه که توسط شرکت ما (Plan Econ) بعمل آمده تخصیصیه صنایع نظامی شوروی از هژده فیصد در سال ۱۹۶۰ به چهل وچهار فیصد در سال ۱۹۸۵ بلند برده شده است. حالانکه در بعضی اوقات تخصیصیه صنایع سنگین غیر نظامی از پنجاه و هشت فیصد به سی و نه (۳۹) فیصد وتخصیصیه اشیا نهایت ضروری (مانند موتر، یخچال ....) از بیست و چهار فیصد به هفده فیصد (۱۷) کاهش یافته است.

گرباچیف برای تطبیق پروگرام های اقتصادی اش مجبور به تعمیل این دونکته است:- یکی اینکه باید رشد تولیدات غیر نظامی کشورش را طبق پلان پنجساله -

کنونی به سطح ۷،۵ فیصد در سال نگهدارد. ثانیاً اینکه باید رشدصنایع نظامی شوروی را برای سالیان (۱۹۸۷-۹۰) به سطح چهار فیصد در سال محدود نماید. حالانکه اوسط رشد صنایع نظامی شوروی در دههٔ گذشته ۸،۵ (هشت اعشاریه پنج) فیصد بوده است.

به ترتیبی که ذکرشد شوروی میتواند که سرمایه گذاری درصنایع غیر نظامی اش رابه ۹،۵ فیصد درسال بلند ببرد واین مقدار است که پروسهٔ پیش بینی شدهٔ عصری ساختن شوروی راممکن می سازد.

پشنهادات مکرر شوروی دربارهٔ کنترول سلاح مبینی بحران تجارتی این کشوراست. شوروی ها، طوریکه رهبران شان مکرراً بیان داشته اند،بغرض نجات پروگرام عصری ساختن شوروی، خواستار توافق در زمینهٔ کنترول سلاح اند وانعطاف خلاف معمول آنها در مذاکرات فعلی محدودیت سلاح نشاندهندهٔ این امراست.

داستان کوتاه

لیلی ملک تیموری

انتظار

قرص آفتاب آرام آرام از نظرها غایب میشد و رگهای سرخ و طلائی اش هنوز بر تن نیلی آسمان نمایان بود، زاغها خیل خیل قاغ قاغ کنان به سوی لانه هایشان در پرواز بودند گوی قبل از اینکه آسمان جامهٔ سیاهٔ شب رابه تن کند آنها میخواستند به لانه هایشان برگردند - مادر نسیم دیگر عادت کرده بود تا هر روز هنگام غروب آفتاب کنار پنجرهٔ شکسته و ریخته اش بایستد ومنتظر برگشت فرزندش باشد - هرقدر هوا تاریک تر میشد ضربان قلب مادر تند ترمیگردید و نگاهش تیز تیز به راه دوخته میشد، غم و اندوه گنگ و ناشناختهٔ سراپایش را فرا میگرفت گوئی غروب آفتاب، غروب امید های او را اعلان میکرد که اینقدر- شامگاهان خود را ناتوان و بیچاره احساس مینمود این احساس نا خود آگاه پس از زندانی شدن شوهر و مرگ دخترک سه ساله اش بر او حکمفرما شده بود او در همه جا و درهمه چیز داستان تلخ زندگی خویشرا میخواند در پیکر سر- درختان خشک و بی برگ، درکوچه های تنگ و خاک آلود، در سیمای مضطرب و حیران پرندگان، در سرود تلخ و مرگبار هرشام که لحظه هایش را بی صبرانه درانتظار فرزند بسر میبرد زندگی بی فروغ خودرا تماشا میکرد، زندگی راکه ناخوشی ها و خوبیها یش را احساس کرد و شناخت بار غمها را بر دوش ضعیفش گذاشتند، - شیارهای صورتش فراق و بیکسی وچشم های کود و فرو رفته اش تلخکامی

های زندگی او را باز گو میکرد گاهی بر یاد گذشته های شیرینش لب خند زود گذری لبهای خشک و ترکیده اش را در حرکت میاورد و سختی درد و رنج امروز و سودای فردا ها چین بغض و اندوه را برلبان لرزانش پدید میآورد- هیچ- نمیدانست او کیست ؟ از چه میترسد ؟ و برای چه می اندیشد ؟ ....

با این اندیشه های تلخ و پراگنده راه را می پوئید از دوردر روشنی نیم رنگ شام فرزندش را دید که مثل هر روز تبنگ جواری اش را بسر دارد وبا شتاب و عجله بسوی خانه گام میزند ، دلش آرام گرفت شکر نمود ، از اطاق- بسوی دروازهٔ حویلی اش رفت و در را باز کرد- نسیم که میدانست مادرش حالاکنار در انتظارش را میکشد نصف راه کوچه رامیدوید و با خیال کودکانه- اش خودرا موفق میدانست و تیت تیت کنان تا درخانه میدوید و باز که نزدیک در درکه شده بود برک میگرفت ، مادر درآن لحظه تبنگ رااز سرش برمیداشت ونصیحتش می نمود که درکوچه دویدن و سر و صدا براه انداختن کار خوب نیست آن شام نیز نسیم تا درخانه دوید و تیت تیت کرد اما بعد از برک ... قبل ازآنکه مادر تبنگ را از سر فرزند بردارد متوجه پا های نسیم شد که از بی کفشی و سردی هوا ترکیده بود و از ترک های پا هایش خون جاریست - نالهٔ از دل رنجور و داغدیدهٔ مادر بلند شد ، دیگر نتوانست جلو اشکهایش را بگیرد ، بر- دیوار تکیه زد و برحال فرزند گریهٔ سر داد- نسیم تبنگ رااز سرش پائین کرد وحیران حیران بطرف مادر نگاه دوخت ، نمیدانست مادرش چرا میگرید-با آستین پینه خورده اش قطره قطره اشک های مادر راپاک میکرد ومکرر سوال می- نمود « مادرجان چرا گریان میکنی ؟ چرا ... ؟ بخاطر چه ... ؟ مه دگه سوترک نمیشم ... بخدا دگه تیت تیت نمیکنم ... دگه هیچ وخت نمیدوم » حرفهای

نسیم چون نمک بر زخمهای مادر اثر کرد او را در آغوش کشید وبر معصومیت و بیچارگی فرزند دلش کباب شد دست وصورت و سر فرزند راچون دیوانه ها می بوسید در را بست ونسیم را بغل کرد و بطرف اطاق کوچک و غریبانه ایشان روان شد، وقتی داخل اطاق شد فرزند را بالای دو شک ژنده ئی که از چند جای پینه خورده بود نشاند، هلیکن را روشن کرد با چادر خود خون پاهای فرزند را خشک نمود - نسیم که تا آنوقت متوجه پاهایش نشده بود علت گریهٔ مادر دانست - دستان مهربان مادر را محکم گرفت و شمرده شمرده گفت: «مادر جان! تو...تو بخاطر پاهایمه گریان میکنی»

مادر میخواست چیزی بگوید، اما بغض گلویش را فشرده وبجای سخن اشک از چشمانش سرازیر شد - نسیم که با درد پاهایش عادت کرده بود آهسته خندید و از جا بلند شد، دور دور خانه به دویدن و تیت تیت کردن شروع کرد و بعد از چند دور نزدیک مادر آمد مزم مزم اشکهای مادر را با دستان سرد و استخوانش پاک نمود وخود را در آغوش مادر انداخت با حرفهای کودکانه اش میخواست مادر راتسلی دهد، یکبار بیادش آمد که فردا باید همراه بامادرش به پلچرخی برود و برای پدرش لباس و پول ببرد، دستش را در جیب پیرهنش برد پولی راکه جمعاً بیست افغانی میشد بیرون آورد و یک یک شمار کرده بدست مادر داد - مادر نیز گرهٔ چادرش باز کردو مزدی راکه از کالاشویی حاصل کرده بود برآن افزود و هردو دربارهٔ فردا که باید پلچرخی بروند لحظهٔ حرف زدند - دفعتاً باز نگاه مادر بر پاهای ترکیده و پرخون نسیم- افتاد کنده کنده گفت: «بچیم تو صبا با ای پا هایت کجا رفته میتانی؟ مه خودم صبا تنها میرم.» نسیم که برای رفتن به پلچرخی روز ها دقیقه شماری میکرد

و بی صبرانه انتظار میکشید ازین حرف مادر ناراحت شد و با بی حوصله گی گفت: «مادرجان پاهایمه هیچ درد نمیکنه ... ای پای نیس طیرموتر اس خونش تا صبا بخیر خشک میشه و مه صبا حتماً میرم و باقی جراری ما را ده میدان پلچرخی میفروشم به بابه جانم سگرت میخرم ، آخر یک ماه میشه که به او چیزی نبردیم دکه مردم به - بندی های خود چقدر خوردنی ، کالا و پیسه می برند و ما بیچارا ... » مادر حرفش را قطع کرده گفت : « بچیم فکر دیگا ره از سرت دورکرده در فکر خود باش حسرت خوردن کارخوب نیس مردم اگه پول میبرند یا خوردنی یا کالا بیچارا مثل ما بندی - دارن .»

با این حرفها همیشه مادر میکوشید تخم هستی سوز حسرت و احساس حقارت را در وجود کودک هفت ساله اش بکشد و همیشه کسانی را به نسیم مثال میآورد که رنج وغم و تنگدستی شان نسبت به نسیم و مادرش بیشتر بود - نسیم که حرفهای مادر چون مرهم درد هایش را دوا میکرد او را به تفکر وامیداشت ویک یک کسانی راکه مادرش مثال میآورد در برابر چشمانش مجسم میشدند یکبارملنگ کاکا بیادش آمد که امروز کراچی اش را خالی اینسرو آنسر میبرد ، زیرا بیچاره آنقدر پیر و ناتوان بود که هیچ کس دل نمیکرد برکراچی اش چیزی را بار کند - نسیم آهسته خود را از آغوش مادر دورکرد .و مقابل او زانو زد و درباره بیچارگی های ملنگ کاکا که دو فرزندش راپرچمی ها زندانی کرده بودند برای مادر قصه ها کرد درحالیکه سرش را پائینی گرفته بود وبا انگشتان باریکش گرد های روی نمد راجمع میکرد گفت « مادرجان امروز کاکا ملنگ گفت که ماه گذشته ده پلچرخی بندی ها اعتصاب کده بودن از همو خاطر ماه گذشته کالائی هیچ کسه نگرفتن کاکا ملنگ گفت که دلم گواه بد میته میگن که یک تعداد بندی هاره حزبی ها کشتن ... مادر جان اگه

بابه جان مره چیزی شده باشد؟»

مادرکه قبل از نسیم در بارهٔ کشته شدن زندانیها او هرکس هرچیز - شنیده بود و طوفانی عظیمی در دلش برانگیخته شده بود دانست که پسرش با چه کشمکشی درونی ملی دست وگریبان شده که حتی درد پاهای ترکیده اش را نمیتواند احساس کند - نمیدانست برای نسیم چه بگوید... میدان پلچرخی، چهره خونناک حزبی ها، سیما های اندوهگین مردم مجبور و ناتوان، گریهٔ طفلکان، سردی هوا همه وهمه در برابر چشمانش قرار داشت، باخود می اندیشید که اگر خدای - نخواسته شوهرش درآن گیرو دار شهید شده باشد نسیم منتظر نجات پدر را چگونه تسلی دهد، پسری که یک ماه تمام دقیقه شماری کرده تا روز موعود فرا برسد که برای پدر خط و سگرت وکالا روان کند باچه حرف وکلام وجمله این موجود کوچک و بیگناه رانگزارد دل شکسته شود - هر قدر می اندیشید همانقدر خود را بیچاره و ناتوان تر احساس میکرد.

آنشب نسیم و مادرش نان نخورده در بستر خواب رفتند تا دیر ها- هردو بیدار بودند و درد دل کردند نسیم که تمام روز گشته بود وجواری فروخته بود درست نیمه شب خوابش بود ولی مادر از فردایکه برای رسید نش بیتابانه منتظر بردمی هراسید واین هراس ووحشت چنان سراپایش را فراگرفته بود که تا نمازصبح لحظه‌ای هم نخوابید - گلبانگ آذان محمدی سکوت تلخ شب را درهم شکست مادر از جایش بلند شد و مصروف وضو ونماز گردید - قرار بود ساعت شش صبح روانه پلچرخی شوند نسیم راان خواب بیدار کرد هر دو پس ازصرف چای خانه را ترک گفتند. از کوچه های تنگ وتار شور بازار گذشتند - بعد از یک ساعت پیاده روی خود را به ایستگاهی موتر های پلچرخی نزدیک وزارت مالیه رسانیدند-

نسیم خریطهٔ راکه در آن یکجوره لباس همراه بایک قوطی سگرت دو دانه نان خشک بود در دست داشت با مادرش در یک بس کوچک بسوار شد، موتر هایکی بعد دیگر حرکت میکردند و دلها در سینه هامی تپید - در طول راه کسانیکه داخل بس بودند در بارهٔ اعتصاب زندانیان صحبت میکردند و درحق زندانیان دعا مینمودند تا بلاخره به میدان پلچرخی رسیدند - نسیم از عجله فراموش کرده بود تبنگ جواری هایش را با خود بیاورد تا بقیه جواری ها را سوداکند با افسوس به مادر خود گفت:

«مادرجان! اگه جواری هاره میآوردم همگیش فروخته میشد و یک قوطی سگرت دیگام به بابه جانم میخریدم» مادر با چشمان خسته و بی فروغش - نگاهی به نسیم انداخت که از سردی هوا پایش میلرزد خریطه را از دستش گرفت و او را با چادر نماز ش پیچانید و در گوشهٔ منتظر رسیدن نوبت شان نشستند - مادر آنچه را شب گذشته درخیال دیده بود اکنون باچشم سرتماشا میکرد زنهایکه خط و لباسهایشان پس مسترد شده بود موی و روی می کندند و فریاد میزدند، کسی لباس خون آلود فرزند اسیرش را در دست داشت وگریه میکرد وکسی هم از پدرش را - در دشت پلچرخی قیامتی برپا شده بود هیچکس به داد کس نمیرسید همه در غم وماتم خود سربه سنگ وخاک میزدند، تا اینکه نوبت به مادرنسیم رسید و عسکر مؤظف نام نسیم را به زبان آورد، مادروپسرهردو بسوی عسکرد ویدند - عسکر کالاو اشیای ارسالی شانرا همراه بالباس خون آلود پدرنسیم بدست مادرش دادو گفت «دیگهٔ به بندی تان کالا نه بیارین»

این حرف چون میخ مغز مادر را شگافت زمین وزمان در نظرش تیره و تارگشت دست و پایش بیدم شد چیغ زد و برزمین افتاد - بید رنگ اشک از

چشمان ستمدیده اش جاری گشت - نسیم در حالیکه سراپا چون بید میلرزید خود را در آغوش مادر انداخت - او دیگر دانسته بود که انتظارش به تلخی انجامید تلخئی که اثرش چون زهر بود او دیگر یتیم شده بود - لباس خون آلود پدر رابروی و چشم مالید و آنقدر گریست تا از هوش رفت.

شفق ستانيزی

د ساينس په پرمختګ کې د مسلمانانو ونډه

په هغه وخت کې چې مسلمانانو د ساينسي علومو ډېره روښانه کړله د روم او يونان سترې امپراطورۍ له زوال سره مخامخ وې. اسلامي پوهانو نه يوازې د يوناني او رومي پوهانو ساينسي نظريات خوندي وساتل، بلکه د تجربو په پيل سره يې د يادونې وړ پرمختګ هم پکې راوست. يو شمېر ړانده او د اسلام او مسلمانانو له هلوځلو نه بې خبره کسان په دې ګروهه دي چې اسلام د ساينس او تجربي علومو مخالف دی او اسلامي پوهانو بشريت ته د ساينس په برخه کې هيڅ نه دي ورکړي، دغه راز ادعاګانې پر حقيقت او واقعيت بنا نه دي، ځکه دغه تصور د اسلام په هکله د اسلام د ښمنانو خپور کړي او لا خپروي يې.

ځينې حق ويونکو پوهانو خپل علمي شخصيت او د مسلمانانو بې مثاله خدمتونو دې ته اړ کړيدي چې په دغه برخه کې واقعيتونه پټ نه کړي او رښتيا و وايي.

چارلس ګرين په خپل «مقدمه تاريخ طب العرب» نومي اثر کې ليکي: «له ډېرې اوږدې مودې راهيسې په دې خبره باور کېده چې عربانو له يونانيانو څخه طب نقل کړيدی او د دوی په ګډون نورو مسلمانانو هم د طب د پرمختګ په برخه کې خنډونه ايجاد کړيدي، خو په دغه خبره به يقين کول ستره بې خبري او غلطي

وي، ځکه داسلام د پیل پروخت یوناني طب له زوال سره مخامخ و، له دارو-درملو نه پکې جادو او تورټکو، ډیر اهمیت درلوده. مسلمانانو یوازې داچې یوناني ساینس او طب یې له نابودۍ څخه وژغوره، پر هغې یې شرحې ولیکلې او په تجربو یې پیل وکړ، له دې امله هغوی په ساینسي علومو کې ډیر پرمختګ وکړ او په ختیځ او لویدیځ کې یې د تجربي علومو زوحیه راژوندۍ کړه.

که عربو یوازې د یوناني ساینس اوطب فرضیې هم اروپا ته په خپلو ترجمو سره نقل کړې وای نو په اروپایانو به یې ستر احسان وای، خو عربو تردې هم ستر کار وکړ او هغه داچې ساینس ته یې په خپلو شرحو او تجاربو سره وسعت او پراختیا ورکړه او د نړۍ نورو اقوامو خصوصاً اروپایانو ته یې ور نقل کړه»

ویلیم سیسل ډیمپر «د ساینس لنډ تاریخ» «short histary afscionce» نومي کتاب کې لیکي: «په عربو (مسلمانانو) کې د طب او کیمیاعلم په اتمه او نهمه عیسوي پیړۍ کې پیل شو. د پرمختګ په برخه کې یې له لویدیځوالو نه میدان ګټلی و، مسلمانانو په دې برخه کې زښتې زیاتې تجربې وکړې چې نور فلزات په سرو زرو بدل کړي او په طب کې د ځوان پاتې کیدلو اووه. او یا د رمل کشف کړي خو په دې بریالي نه شول، خو له دې سره سره یې ډیرې بې شمېره کامیابې تجربې هم وکړې چې په نتیجه کې کیمیاوي ساینس او کیمیایي طبابت مینځته راغی».

فلپ کې هتي، په (تاریخ عرب) نومي کتاب کې لیکي: «اروپایي پوهانو د مسلمانانو ساینسي کتابونه ترجمه کړل، په دې ترګه ځینې عربي فني اصطلاحات په اروپایي ژبو لکه انګریزي، جرمني او فرانسوي کې په لږ و ډیر بدلون سره

داخل شول د مثال په توګه د جلاب کلمه چې د فارسي ژبې د ګلاب معربه ده او د عرق ګلاب لپاره استعماليږی د «Gulup» په بڼه موجوده ده.

د «Syrup» کلمه هم د عربي ژبې له شراب او شربت څخه اخيستل شويده د «Alcohol» «الکل» کلمه د عربي ژبې لکه الکوحل څخه اخيستل شويده».

منځنۍ پيړيو ته اروپايان تياره دوره وايي، ځکه چې د مسيحيت پلويانو د ټولو د طبوی علومو د ورکولو لپاره ملا تړلې وه، جارج سارټن وايي چې: د دغې دورې له امله تر ډيرې مودې پورې د ساينس داحيا هيله بالکل کمزوری شوی وه. وايي چې د بطليموس په کتابخانه کې اوه لکه کتابونه موجودو، خوجولسيس سيزر رومي پاچاچې پر هغه بری وموندو نو د عيسايي پادريانو په مشوره له نيم څخه زيات کتابونه وسوځول. په دغه وخت کې په مسيحي اروپايی د نورو ژبو د کتابونو ترجمه بالکل ممنوع وه او پخپله ژبه هم چاهم نشوای ليکلای.

په داسې حال کې چې په دغه وخت کې عباسي خلفاؤ د علم پرمختګ او يوناني کتابونو ترجمې ته خاصه پاملرنه کوله، تقريباً ټول علوم يې عربي ژبې ته رانقل کړی وو.

د بغداد په کتابخانه کې تر شلو رولکونه زيات کتابونه موجود وو، کله چې هغه منګولانو د دجلې په سيند کې واچول نو سيند پرې بند شواوبه يې تورې شوې. د کتابونو د ترجمو په برخه کې د مسلمانانو د يادونې وړ خبره دا ده چې يوازې علمي او ساينسي کتابونه به يې ترجمه کول نه د شاعرۍ او فلسفې، پر علمي کتابونو به يې شرحې ليکلې او په تجربو سره به يې هغو ته نور هم انکشاف او وده ورکوله.

یوناني ساینس له دې امله بیرته پاتې شوی وچې نجوم او جادوګرۍ زښت زیات دخالت درلود، دافلاطون په څېر مفکرهم د لمر په عبادت ګروهن و.

مسلمانانو له ساینس نه خرافات لیرې کړل او په تجاربو بسره یې علمي استحکام او ارزښت ور وباښه، په دغه برخه کې رابرټ بریفالټ لیکي، «د یونانیانو په مزاج سیمې تحقیقاتي او تجربي لارې برابرې نه وې، اروپا دلومړي ځل لپاره د څیړنو او تجربو دود مسلمانانو ته ور زده کړ، هغه مسلمانان ساینسدانانت چې له اوومې میلادي پیړۍ نه تر پنځلسمې میلادي پیړۍ پورې پیدا شویدي او په نړۍ کې د هغوی د علمي خدمتونو ته په درنښت کتل کیږي.

هغه دادي: جابر بن حیان، الرازی، البتانی، البیروني، ابن سینا، ابن الهیثم، عمرخیام، یعقوب بن اسحق الکندی، الخوارزمي، الفرغاني، ثابت بن قره، حسین بن اسحق الفارابی، المسعودی، ابطری، ابوالوفا، ابن عباس، ابوالقاسم زهراوی ابن اسحاق، ابن یونس، ابن جزار، الکرخي، ابن عیسیٰ، الفزاري، الرزقاني ابن العوام، ابن بیطار، ابن خطیب او حسن الرماح.

پورتني علما او پوهان داروپا د موجوده ساینس پرمختګ استاذان او بنست ایښودونکي ګڼل کیږي: بارود او تیزاب مسلمانانو کشف کړیدي، قطب نما او مقناطیسي ستن مسلمانانو جوړه کړیده، هوایي ژرندې جوړول او د شیشې صنعت هم دلومړي ځل لپاره مسلمانانو ایجاد کړیدي. دوربین او د ځمکې د کرویت اثبات د المامون په وخت کې عرب جغرافیه دانانو کړیدي. همدغو جغرافیه پوهانو دا هم لیکلي دي چې له ځمکې نه اته پنځوس میله لوړوالي پورې هوا ده او تر هغې پورته خلا ده.

په داسې حال کې چې ارسطو او نورو یوناني مفکرینو او حتیٰ داروپا

د رنسانس له دورې وروسته هم اروپايي مفکرينو داخبره نه منله.
د المامون په وخت کې محمد بن موسی الخوارزمي (۷۸۰ - ۸۵۰ م) د «الجبر والمقابله» نومې کتاب وليکه چې تر شپاړسمې پېړۍ پورې د اروپا په پوهنتونو کې لوستل کيده.
د ابن سينا «القانون» او د بصري «الحيوان» نومې طبي کتابونه هم تر شپاړسمې پېړۍ په اروپا کې لوستل کېدل.
د وينې د دوران نظريه دلومړي ځل لپاره ابن نفيس وړاندې کړې وه، الزهراوي چې د مثانې د تيږې د ايستلو لپاره د بدن دکوم ځای د څيرولو بنوونه کړې وه تر اوسه پورې پرې عمل کيږي.
د تاريخ تمدن شرق مولف ويلدوړانت ليکي: د اسپانيايوه ساينسدان ـ ابوالقاسم ابن فرناس درې څيزونه کشف کړي وو، د عينکو شيشې، د وخت ښودلو ساده ساعت او يو داسې ساده ماشين چې په هوا ګرځيدلی شو.
ابراهيم الفزاري د خليفه منصور په زمانه کې د لومړي ځل لپاره اصطرلاب جوړ کړی و
لومړی چاپخانه د عبدالرحمن اول (۷۵٦- ۷۸۸م) د اسپانيا د حکمدار په زمانه کې جوړه شوې وه او د هغه احکامات به پرې چاپيدل.
د اسلامي نړۍ ساينسدانان په دوه دورو ويشلای شو؛
لومړۍ دوره يې (٦۰۰ - ۱۰۰۰م) پورې ده.
دويمه دوره يې د منځنيو پېړيو (۱۰۰۰ - ۱۵۰۰م) پورې ده.
په لومړۍ دوره کې تر دويمې دورې ډير تحقيقات شوي دي. په داسې حال کې چې په اروپا کې دويمه دوره د تياره دورې (dalk age) په نامه سره ياديږي، کتاب ليکل او ترجمه خو په ځای پريږده له ځان سره ساتل يې هم ستر

ګټل کړې ده.

مسلمانانو د دیني علومو، اخلاق، فلسفې او ساینس علومو ډیره روښانه او طلایي دوره تیره کړې ده او په اروپا کې د ساینس د لومړنیو استادانو په حیث ګڼل کیږي.

ماخذونه

۱- اسلامي فکر وثقافت، د عطش درانی لیکنه، ۱۹۸۰، لاهور- پاکستان، (۱۴۲-۱۶۲) مخونه.

د حضرت عمر (رض) ویناوې

حمد او ثنا

زه تاته د هغه خدای ﷻ نه ویره در ښایم، کوم چې د تل لپاره دی، او ده ته پرته هرڅه تلونکي، فنا کیدونکي، دي. لوی خدای جل جلاله مونږ د ګمراهیو څخه را وویستو، سمه لار یې را وښوده، د کفر د ترکمیو څخه یې د اسلام په رڼا (روښانه) روان کړو.

حضرت ابو عبیده (رض) ته خطاب

د ټولو هوښیار هغه څوک دی چې د ده تګ لاره د خدای جل جلاله ویره وي.

د یرموک د غزا په وخت کې یې حضرت ابو عبیده بن جراح مخاطب کړ او ویې فرمایل،

دا څرګنده خبره ده چې لوی خدای جل جلاله مشرکان د مینځه یوړل او بری یې د مسلمانانو په برخه کړ او خپل سرتیري یې په ډیرو عنایتونو سره نازول مونږ د لوی خدای جل جلاله د دغو ټولو مهربانیو شکرګذاره یو او د خدای پاک جل جلاله د دغو ټولو نوازشونو د شکر په ذریعه د پوره کولو امید لرو.

دا څرګنده ده چې تاته دا بریالیتوب د قوت، تعداد او یا د جګړه ایزو وسایلو په واسطه نه دی حاصل شوی بلکه دا د لوی خدای جل جلاله احسان او مرسته

وه، هغه ذات د ډیر لوی قدرت خاوند دی، هغه د رحم خاوند دی او هغه ذات د ډیر لوی فضل خاوند دی.

«فتبارک الله احسن الخالقین والحمد لله رب العالمین»

د خدای پاک جل جلاله شکر پر ځای کړه د شکر په واسطه نعمتونه ډیریږي خوښي او بریالیتوبونه د تل لپاره ځای په ځای ساتل کیږي.

صحیح داده چې د خدای جل جلاله نعمتونه دومره زیات دی که ته وغواړې چې هغه وشمیرې نو نه یې شې کولای.

د مدائن د بریې په وخت یې سعد بن ابی وقاص (رض) مخاطب او داسې یې ورته وفرمایل:

سعد (رض)، ته د خدای جل جلاله هغو عنایتونو نه باخبره شه کوم چې خدای پاک جل جلاله پر مونږ کړیدي - د هغه ذات مونږ د شرک او شرک کونکو نه وژغورلو او هم یې د بتانو د عبادت او پرستش څخه وساتلو د گمراهیو څخه یې راوویستو او د هدایت لار یې راوښوده.

حضرت عمر فاروق (رض)، به یو شعر د ځان سره اکثراً زمزمه کاوه چې مطلب یې دادی:

داکوم شیان چې زمونږ نظر ته راځي د دی څخه به هیڅ شی پاتې نشي مال وی او که اولاد دا ټول به فنا شي البته د الله جل جلاله ذات ته یوازې پایښت (بقا) حاصله ده.

د خدای جل جلاله ویره

خپل شعار د خدای ج ویره وګرځوئ، د خدای پاک جل جلاله نه ویریږئ چې ستاسې په ظاهر او باطن باندې پوهیږي.

خدای جل‌جلاله د یر یادوی - د ده په خوښه کار کوی - د دې په کولو سره راحت خوښتونکی ته راحت او بریالیتوب په برخه کیږي - څوک چې په دې دنیا ښه عمل وکړي د دې اجر به په اخرت کې ورکړل شي.

لاحول ولاقوة تل وایه څوک چې د خدای جل‌جلاله لار ښوونه غواړي خدای جل‌جلاله د ده زړه د اسلام د پاره بیرته ساتي.

د قادسیې د جګړې نه مخکې یې په یوه لیک کې فرمایلي و:

ماته الهام شوی چې د ښمن به ستاسې په وړاندې ماته وخوري - شک او بد د زړه څخه و باسی د دې په ځای د خدای جل‌جلاله ویرې ته پکې ځای ورکړئ.

د مدائن د بري په اوریدو سره یې حضرت سعد (رض) بن ابي وقاص ته ولیکل:

تاته د خدای جل‌جلاله نه د ویرې ښوونه کوم د خدای جل‌جلاله د ویرې د امله خوشبختي پیدا کیږی او د هغه د ویرې نه غافله کړل خلک د بدبختۍ ښکار کوي.

د جرلمن ونیسه، په دې پوه شی چې صبر دوه ډوله دی، یو اعلی او بل ادنی په مصیبتو کې صبر کول ښه دی. د هغو کارونو نه ځان ساتل کوم چې ترینه خدای منع کړی یو د اعلی صبر دی - په دې هم پوه شه چې صبر د ایمان یوه برخه ده د دې لپاره چې د خدای جل‌جلاله ویره د ټولو نه لوی امکان دی.

«توحید»

زه په دې پوهیږم چې حجرالاسود فقط یوه تیږه ده چې نه ګټه رسولی شي او نه تاوان.

د بیعت رضوان د یادګاری ونی د پریکولو په وخت کې یې وفرمایل:

اهل کتاب د هغو خبرو له امله د مینځه ولاړل چې هغوی د خپلو پیغمبرانو د -

یادګارونو نه عبادت خانې جوړې کړې وې.

خدای پاک جل جلاله به د هغو خلکو سهوه هیڅکله و نه بښي چې د ده سره یې نیولی وي د دې نه د کمې درجې خطا کوونکی که د خدای جل جلاله خوښه شي - معاف به یې کړي.

کله چې د دوو قبیلو تر مینځ جګړه وي او یو د دوی نه د جاهلیت د دورد دستور سره سم یا پلانکی (یافلان) ووایی نو پوه شه چې شیطان هغوی لمسولی دی. د هغوی نه په تورو پرښتنه وکړه ترڅو چې د اسلام لورې ته راوبللی شي.

ما ته دا خرګنده شویده چې کله د خبثه قبیلې خلکو د قومي جګړو په وخت کې دا نارې وهلې » د خبثې اولادې کمک، د خبثې اولادې کمک « او د خپلې قبیلې - خلک به یې راغوښتل په خدای جل جلاله دا ما ته نده معلومه چې د دې قبیلې د خلکو په لاس به کوم نیک کار شوی وي او یا دې د دوی په واسطه کوم بد کار واقع - شوی وي.

د رسول الله (ص) مینه

زه تل د خدای جل جلاله نبی حضرت محمد (ص)، ته درود استوم ځکه چې داد الله حکم دی.

خدای پاک چې کله انسان پیدا کړ نو هغه ذات د انسان په بې وسی باندې پوه ؤ د دې دپاره یې یو استاذی (نبی)، رالیږه او ده ته یې یو کتاب ورکړ چې په دې کتاب کې منظم او مثبت قانون بنوولی او بعضې خبرې یې بې وضاحته پریښې دي دا یې د سهوې او یا غلطی له مخې نه دی پریښې بلکه د لطف او کرم د لارې - د هغو غیر ضروري خبرو لټون پرېږدئ او خپل وخت پرې مه ضایع کوئ.

د یو مشهور تابعي سعید (رض) بن مُسیب (رض) نه روایت دی چې یو تن عرب چې صبیغ تمیمي نومیده حضرت عمر فاروق (رض) ته راغلی او داسې یې وویل:

صبیغ تمیمي (رض)، د الذاریات ذرواً» نه مطلب څه دی؟

عمر فاروق (رض)، د ذاریات معنیٰ ده هوا گانې.

که چیرته ما د پیغمبر اکرم (ص) نه نه وای اوریدلی نو هیڅکله به مې تاته نه وای معنیٰ کړې.

صبیغ (رض)، د «والحاملات وقراء» نه مطلب څه دی؟

عمر فاروق (رض)، د حاملات معنیٰ ده وریځې که چیرته ما دا معنیٰ د حضرت رسول اکرم (ص) نه نه وای اوریدلی نو هیڅکله به مې تاته نه وای ویلی.

صبیغ (رض)، د «والمقسمات امراً» مفهوم څه دی؟

عمر فاروق (رض)، د مقسمات تفسیر ملایکې دي که چیرته ما دا تفسیر د رسول اکرم (ص) نه نه وای اوریدلی نو هیڅکله به مې تاته نه وای ویلې.

د دې نه وروسته حضرت عمر فاروق (رض) صبیغ سل کوړې وواهه او په یوه تنگه وړه کوټه کې یې بند کې. کله چې د صبیغ ټپونه روغ شول نو را یې وغوښت او نورې سل کوړې یې وواهه. بیا یې دی په اوښ کېناوه او د ابوموسیٰ په نامه یې داسې لیک ورکړ او بصرې ته یې ولیږه!

«صبیغ تمیمي د کار خبرې پریښې (مقصد د قرآنکریم واضح ایات) او غیرضروري (مقصد د قرآنکریم متشابهات) د دې پسې شوی. خلک د ده سره د ناستې ولاړې څخه منع کړه او د ده کلنۍ تنخواه او ورسره ناسته پاسته بنده کړه».

صبیغ دا تولنیز بندیز (بایکاټ) و ننشر منلای نو د والی په مخکې یې توبه وویسته د والي په منځگړیتوب حضرت عمر (رض) دی و بښه.

یوځل حضرت عمر (رض) دعُمرې دحج د اداکولو اجازه وغوښته حضوراکرم (ص) هغه ته اجازه ورکړه دحضرت عمر (رض) د تللو په وخت کې بیې ورته وفرمایل:

زما ورورہ! په خپلو نیکو دعاګانو کې دی ما هم شریک کړه - حضرت عمر (رض) د- کائناتو د سردار دځان سره حفظ کړه- هغه (رض) به اکثراً ویل:

«انحضرت (ص) ماته داسې خبره کړیده چې زه به ددې فرمودې په بدل کې دنیا او دنیا د ټولو نعمتونو اخیستل خوښ نکړم»۔

کله چې حضرت عمر (رض) خپل زوی عبدالرحمن د شراب څښلو په جرم اتیا[80] کوړې و واهه او د مرګ پولې ته ورسید نو حضرت عمر فاروق (رض) و فرمایل:

«کله چې دې د حضرت محمّد (ص) سره لیدل و شول ورته ووایه چې زما پلار ستاسې (ص) راوړی شوي شریعت د نفاذ دپاره حدونه جاري کړل»۔

کله چې ماته د حضرت رسول اکرم (ص) د لید نې شرف حاصل شي زه دد واړو جهانونو د سردار غلام او ورکوټی مزدور یم او داسې څوک نه یم چې په رحم اوزړه کې انحضرت (ص) ته ورسیږم، همدا راز چې لوی خدای جل جلاله هم فرمایلي:

«هغه د مؤمنانو دپاره د راحت او رحمت سرچشمه ده»۔

د هغه (ص) په وړاندې زه د لوڅې تورې حیثیت لرم کله چې انحضرت (ص) وغواړي د کار اجازه راکړي زه د رسول الله (ص) په خدمت کې داسې یم تردې پورې چې الله تاسې (ص) یاد کړي یاستی۔

حضور (ص) د ژوند تر اخره وخته پورې ځما څخه راضي وُ په دې باندې زه د لوی خدای ج په لکونو لکونو شکر په ځای کړم او په دی باندې ځما فخر دی۔

یہاں تک کہ اللہ نے آپؐ کو یاد فرمالیا۔

لوی خدای جل جلاله په دری ځایونو کښې د حضرت عمر (رض) نظر تائيد کړی او د ده مطابق کښې وحې نازل کړی - يو د ابراهيم په مقام باندې لمونځ کولو په باره کښې.

دوهم - د پردې په باره کښې.

دريم - د بدر د غزا د اسيرانو په باره کښې.

په حضرت محمد (ص)، دې په زرهاؤ درودونه او سلامونه وي چې د هغې محبت زه د ټولو مصيبتونو څخه ساتلی يم.



لنډۍ

د پښتو ادب لويه شفاهي پانګه چې په خلکو پورې په کليو او بانډو- نه- تحصيلکرده شاعرانو پورې اړه لري، لنډۍ دی. لنډۍ د پښتنو اسلامي فرهنګي احساساتو سرچينه او مظهر دی چې په اجتماعي، حماسي او عاطفي برخوکې د پښتو او پښتنو د زړو نارې څرګندوی.

کله چې د اسلامي ثقافت وړانګې زموږ په ټولنه خورې شوې او زموږ متفرقه او ابتدائي لومړني کلتور په اسلامي کلتور کې حل او مدغم شو، په اسلامي بنيا د نوې ټولنه کېښودله شوه چې ځانګړېتوب يې اسلام وه، تر دې وروسته پښتنو په اسلامي عقيده کې داسې صداقت او کلکتوب ښکاره کړ او د خپل مبين دين د پراختيا په لاره کې يې هغه کارنامې پرېښودلې چې د ښتنې تاريخ يې هيڅکله نه هيروي.

اساساً زموږ د پرګنو هويت اسلام دی که پښتنانه ميړني دي ځکه چې «ايمان او غيرت سره تړلې دی »، که عفت او تقوا لري عفت د ايمان ځلا ده او تقوی د تقرب محک. که د پښتنو حاجي ميرويس، سوري شيرشاه، احمد شاه، لوديان يا ديرې د اسلام له برکته دی چې دوی د اسلامی عقيدې د پراختيا د پاره جنګيدلي. که د ملالی لنډۍ د شهامت ناره ده ځکه چې جهاد ته، غزاته او شهادت ته

بلل دي د اسلامي آيډيالوژۍ ځنډ ساتنې ته او په دغه لارکې ځان سپارنې ته.

که په ميوند کې شهيد نه شې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

که خوشحال او رحمن د پښتو ادب باباګان دي په دې خاطرچې د اسلامي ادب او عرفان د مکتب شاګردان دي.

زموږ نړولې د زمانې ډير سخت او کلک طوفانونه زغملي دي چې نن بيا د ازمايښت پړاو تيروي او د دې غيرتمنو مسلمانو ميرمنو ويښو بيا جوش کړی و ناربې وهي چې:

مجاهدين د خدای دوستان دی
چې د اسلام په مينه سر قربانوينه
چې د اسلام لښکرې راغلې
د خدای د پاره به جهاد ته ځمينه
الله اکبر ناربې شوې پورته
د الحاد زړه يې په مسکو ولړزوينه
چې جهاد کړی خوشحاله کيږم
چې يا شهيد شې يا غازي راشې مينه
جهاد ته ځم يار راسره دی
چې دی ويشتل کاږه مرمۍ وررسومه
د مجاهدو ډلې راغلې –
غزاله ځي پر اسلام سر قربانوينه
پښتنو ننګ کړه نن غزا ده
وروس راغلی دی اسلام لريکوينه

دښمن په یوه غشي دوه هدفونه وولي.

— حبیب الله

د هغه اصلي نوم حبیب الله دی، خو په ورکتوب کې د ښو اخلاقو په لرلو سره په کلي او کوڅه کې په ګل مشهور شو. چې لږ څه لوی شو د دیني علومو د زده کړې لپاره یې ملا وتړله او په ځوانۍ کې موږ هغه په ملا ګل اخند وپېژانده.

ملا ګل اخند په خټه ناصر افغان دی او له نن څخه ۲۷ کاله وړاندې د کندهار ولایت د ډنډ د ولسوالۍ په ناصرانو کې زیږېدلی دی.

ملا ګل اخند د روان جهاد په اوږدو کې اته کاله پرله پسې د حق په سنګر کې د یوه پیاوړي او هدفمند مجاهد په توګه جنګېدلی دی او اوس هم په داسې حال کې چې یوه پښه یې د هغه زخم په وجه چې په سنګر کې یې پر زنګانه لګېدلی و، پرې شوې ده، خو بیا هم ملا ګل اخند سږکال د محله جات د محاصرې کمربند په ماتولو کې د مجاهدینو آمر او رهنما و، او په یوه پښه یې عملاً په جهاد کې ګډون درلود.

تېره هفته ملا ګل اخُند له څو تنو ټپیانو سره د تداوۍ په غرض دلته راغلی و. موږ له وخت څخه په استفادې سره له ملا ګل اخند څخه د مرکې وعده واخیسته!

ماخستن ملا ګل اخُند زموږ را پورته د مرکې لپاره ومانه. دا دی درانه لوستونکي د دغې مرکې لوستلو ته را بولو.

سوال- غواړم څېله لوړمني پوښتنه د کندهار ولایت کې د جهاد د پیل او د عام- وسله وال مقاومت د لومړنیو لحظو په هکله مطرح کړم- پدې هکله که تاسو څه و وایاست ډیره به ښه وي-

ځواب- جهاد په کندهار کې د روسانو تر راتګ له مخه د ۱۳۵۸ کال په پسرلي کې پیل شو- موږ جهاد په ډیرو ابتدایي وسایلو سره پیل کړ، پوره شپږ کاله موږ خپل جهادي مهمات د دښمن له سنګرونو څخه په غنیمت اخیستل- او د هغو په وسیله مو د جهاد بهیر مخ په وړاندې خوځاوه.

په هغو ورځو او شپو کې زموږ روحیه بالکل عالي وه او تراوسه پورې د خدای پاک جل‌جلاله فضل دی چې زموږ جهاد له پخوانه څو برابره قوي شوی دی، خو د دښمن په وړاندې ضعیف شوی نه دی.

زموږ لومړنی جهادي مرکز د کندهار ولایت د ارغستان په غره کې و- د غه غر بولان نومیږي چې وروسته بیا په مجاهدینو کې د بولان د ولایت په نوم مشهور شو!

پوښتنه- تاسو به له هغه وخته بیا تر اوسه پورې په څو جنګو کې ګډون کړی وي؟

جواب - په دقیقه توګه څه نشم ویلای، خو په کندهار کې تر اوسه پورې حتی دیرې ورځې لپاره هم جنګ متوقف نه دی کړی بلکه همیشه یې دوام درلود او دوام لري.

زما تر اوسه پورې (۳۰۰) درې سوه داسې جنګونه په یاد دي چې په هغو کې ما ګډون درلود دا جنګونه ډیر ستر او زړه بوږنوونکي هم و- او عادي نښتې او حملې هم وي. په دغو جنګونو کې تر ټولو سترهٔ جګړه د ناګهان جګړه وه.

پوښتنه- که د ناګهان د عمومي جنګ په هکله معلومات راکړې ډیره به ښه وي؟

جواب- د ناګهان لوی جنګ د ۱۳۶۰ کال د حمل په میاشت کې پداسې حال کې پیل

مشوچې راډيو کابل د ببرک له خولې اعلان وکړچې: سال که اغاز ميشود سال شکست مطلق اشرار است.

د سهار خوانه روسانو او د هغوی بې واکه مريانو په ناګهانې کې له څلورو خواو څخه زموږ سنګرونه په دری ۳ داېروي محاصره کې کلابند کړل

په دغه جنګ کې د کندهار په هوايي ډګرکې ميشته شپږ روسي يونټونو د منزل باغ په قشله کې پرتو ۳ درو روسي يونټونو د شين ډنډ او قول اردو له قرارګاو څخه را چاپير و پنځو روسي يونټونو او ګڼ شمير داخلي ايجنټانو ګډون وکړ، جنګ دري ورځې ادامه درلوده.

په دغه جنګ کې که په دقيقه توګه ارقام ماسره نه وي نو په پوره باور سره ويلای شم چې د روسانو او د هغوی د داخلي چاکرانو څخه د پاسه اته سوه تنه ووژل شول - څلور ګڼ شيپ هيلي کاپترونه راوغورځيدل، ۲۵ پنځه ويشت - د ټانک او بيرديم د ستګاوې ويجاړې شوې او تقريباً ۸۵۰ اته سوه پنځوس - ميله وسله چې سپکه او درنه وه مجاهدينو ته د غنيمت په توګه په لاس ورغله، زموږ مجاهدينو تلفات د د ښمن د تلفاتو په نسبت او د هغوی د تسليماتي بر تری په نسبت ډير لږ ؤ.

موږ د درو ورځو په جريان کې په اوله ورځ پنځوس ۵۰ تنه - په دوهمه ورځ ۴۰ څلويښت تنه او په آخری ورځ اويا ۷۰ تنه شهيدان ورکړل.

پوښتنه - د کندهار په ولايت کې اوس د د ښمن تاکتيکونه په څه ډول دي؟

جواب - د ښمن اوس د جنګ په ميدان کې تاب نه لري - هغوی فقط د هوايي الوتکو او د درنو توپونو او اتومات موشکو ويشتونکو په واسطه له ځانه دفاع کوي.

په اوسني وخت کې چې روسانو د اشتي ملي پروګرام را مينځ ته کړاوځينوتنل

یی د دغه سیاسي او شیطاني فریب په وسیله مجاهدین تضعیف کړي او-
جهاد له رکود سره مخامخ کړي.

موږ د ارغنداب - محله جات - پا شمول - زنګاوات - زله خان او ارغستان
له محاذونو څخه پر دښمن باندې تکونکي ګوزارونه وکړل - په د یرویاړ سره
ویلای شو چې کندهار لومړنی ولایت وُ چې د دښمن دغه شیطاني فریب ته یې
د جهادي عملیاتو په ګړند یتوب سره دردځواب ورکې.

سوال - په ښارکې اوس د جوزجانیانو په نامه سره یو شمیر بې رحمه قطاع
د روسانو لخوا ګمارل شوي دي چې عادي خلک د خپل ظلم او جنایت ښکار ګرزوي؟

جواب - دغه ملیشه افراد چې د جوزجانیانو په نامه یادیږي اصلاً زموږ هیوادوال
نه دي - دغه افراد له مرکزي آسیا - قزاقستان او نورو سیمو څخه هغه لنډه غر-
بې پلاره او بې موره کسان راغونډ شوي دي - چې د مرکزي آسیا په بیلا بیلو -
زندانونو کې د قتل - غلا او مخدره موادو په تورونو بندیان وُ - او س روسانو
هغوی ته د نیشو او شرابو پوره زمینه برابره کړې ده.

البته یو شمیر زموږ جوزجاني هیوادوال به هم ور سره وي چې
د هغوی حساب هم د روسانو په کتارکې دی - خو روسان په دې کار
سره یو هدف نه بلکه ډیر هدفونه پرمخ بیایي.

لومړی دا چې په دغو ملیشه ګانو باندې خپل نظامي او جنګي هدفونه سرته
رسوي.

او دوهم غټ هدف د روسانو دا دی چې : زموږ د هیواد د شمال او جنوب
د مجاهدینو تر مینځ په د غسې ناروا او شرهیدلو اعمالو سره د تفرقې او بیلتون
واټن را مینځ ته کړي!

په اصل کې دا روسي جنایت کاران دي چې ټول افغانستان یې په جنایت بوخت دي. موږ دا ټول کلونه اوږده جګړه او س ښه په هوش کې کړې وُ.

موږ د ښمن ښه پیژنو.

نوشتهٔ «ملکزاد»

بسمه تعالی

تصویری از دِل

در زندگی جز «درد» و «غم» برمن کسی همدم نشد

زین وضع حسرتبار من چشم کسی هم نم نشد

آری! تنها همین «غم» است که انیس جاویدان تلخترین روزهای زندگانی پراز آشوب وحسرت اندومن شده و؛ پایدارترین و شکیباترین همرهٔ سفرهای دشوارگداز وطولانی «غم» من هم «دل» بیچارهٔ من ...!

آری! این «دو» بس بهم خوگرفته اند و درآمیزش باهم ره ورسم ویژه ای درپیش گرفته اند من چندانکه اصرار بورزم و بپای استنطاقش کشانم تا برگوید؛

- ازچه از سر آمیزش با «غم» درنگذرد؟... ناگزیرمی گویدم: اندرین میان رازیست که نتوان پرده از رویش بیکسو کشید وگاهی بیشتر ازین درحریم پراسرار «آن» فرا گذاشت ...

اما: آنگاه که می بینم مرا تابی در برابر «آن» نیست «دل» رهٔ خشم و ستیز گیرد، وبعتابم پیچد. آندم که می بیند در برابرخشمش دلهره واضطراب طاری ام میگردد، چون برگ نازک درخت درایزای تند باد سهمگین، ویا مانند سینهٔ جوجه کبوتر سپید بال برخود میلرزم، و قطرات اشکهای سیماب گون بدور چشمان ضعیفم، حلقه میزنند؛ آثار حسرتی ازان پایدار میشود. ناگزیر بر میخروشد

وبا هیبتی شگوف وچهره عبوس وادار به سکوتم میکند. وتنها پاسخی که مختصر بر لبان «او» سبزمیشود - کلمه ایست «امتحان» ! ...

باین صورت «امتحان» یکی از دلنواز ترین کلماتیست که «سبقی» بر دل - بیچاره من شده و هر دمش تکرار میکند تاتسلی ای برجان درد مند ورنجورمن مظلوم و بیچاره تر باشد ....

«اشک»: یارپایای چشمان من است که درنگ ناپذیر و دمادم بدامن- میچکد. آری! میچکد وعجبش اینست که چگونه نمیتواند آتش لمعان وپیوسته سوزان «دلم» را دمی فرو بنشاشد؟ ...

«اشک»: آئینه دار «مظلومیت» من است وگویای مبهم ومرموز آینده- تاریک و تاریک من ونامعلومی «سرنوشت» منی که همهٔ جوانه های «آرزو» به مزرع ضمیرم به خشکی گرائیده است.

آخ! چه کنم؟

که آخر مرا بیشتر ازین مجالی برای «فریاد» نمانده، و توانی برای «نالیدن» و «بگریستن»!

اگر «فریاد» را آئینه «فضحت» خوانند ونمونه بیچارگی، او زمانیست که برحالت درد آورد وگریه انگیز من منطابقت دارد.

واگر «شیون» را برای مردان «ننگ» انگارند پس من برای شیونم چه «توجیهی» توان خواهم یافت، تا از چنگال این ننگ و خجلتم وارهاند؟ ...

.... خدایا! «ای پناه ده همه بی پناهان»!

هرمشکلی که مستولی ام میگردد، وهرسختی ای که مرا فرا سویش میخواند، و هر درد توانکاهیکه من بیچاره رابخود می پیچد، گزیزی جز پناه بردن بدرگاه مقدسِ اجابت براَرِ تو، وگریستن درمحرم رازخلوت شب های تیره وخاموش ندارم...

شعراو هنر
دانقلاب په
تگ لوری کی

خوب

دعلي‌خان د شعر په اقتفا

خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه[1]
ګرزم هوسېږم د بابا پر خیل خانه

خوب وینم وطن وي پکښې پلنې پرګنې وي
مینه او الفت وي د ښا دیو قافلې وي
رنګ د بهارونو وي د سرو ګلوغنچې وي
هیلې په موسکا وي پر دګرد ژوندانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

خوب وینم وطن وي پکښې جوړه هنګامه وي

---

(۱) مانه د معنیٰ محلي لهجه.

لاس د صابر شاه کې د احمدخان عمامه وي
څوند وی مشران پر دې تصمیم پې مرکه وي
بیا را ګرزوو د غرور تیره زمانه
خوب وینم عالمه کې چې څوک راکړي مانه

خوب وینم تزار لکه ګورګین وي پرزیدلی
بیا افغان ولس وي پر میرویس چور لیدلی
لمر د خپلواکۍ وي پر تیاتو بې را ختلی
او ړي په اتڼ کې روی مالونه مستانه
خوب وینم عالمه که چې څوک راکړي مانه

خوب وینم ولاړ وي ملخی[1] منګه سورغر کې
وولي تیره څشي د مغلو په ټټر کې
پرزي یرغلګر په هر ډګر په هر سنګر کې
مست ترنګ بهیږي کړانه پر کرانه
خوب وینم عالمه که چې څوک راکړي مانه

خوب وینم محمود بیا فتحه کړی سومنات وي
مات په پانی پت کې د شیطان لات او منات وي

---

(۲)، سلطان ملخی توخی

فتحه مو نصیب وي او سر لوړئ موحیات وي
هسکه غاړه او سو د تاریخ پرآستانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

خوب وینم په منډه تبنتیدلی بې را بیلتون وي
هر اندام یې خوږ شي هر هلو کی یې خوږ من وي
وایی میرځمن او معترف زموږ د ښمن وي
نه لویږی زیږو ښودافغان کې زولانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړی مانه

خوب وینم چې بیا بابا ولي او ارغنداب وي
ژړ انګور پاخه وي په شپږ روان تالاب وي
نه وي د ګناه اثر ژوند ون موټول ثواب وي
خاورې وی آرمان د هرپردي او بیګانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

نه نه دا مې خوب نه و تعبیر د حقیقت و ـــ
دا مې د وطن د عظمتو نو واقیعت ؤ
دغه مې تصویر د سپرڅمونو د رفعت ؤ
ژر دی چې شي وړانه زولانه او جیلخانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړی مانه

خوب

خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه[۱]
وینم خپله مینه زمانه پر زمانه

خوب وینم خوشال دي لړزوي په کټ کې زړونه
توري دي، لښکرې دي، آسونه دي پوځونه
رغړي په میدان کې د مغلو پېرې سرونه
ما ته له اورنګه ده د کبر پیمانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

خوب وینم پر قبر د میرویس جنډې رپېږي
بیا له کندهاره هنګامې را ولاړېږي
بیا د ګرګنیانو د مقتل خبرې کېږي
بیا راپاریدلي د زمریو خیلخانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

---

(۱) مانه د معنیٰ په مفهوم.

خوب وینم قاضي دی، عدالت دی او حکمونه دي
وینم هتکړی دي او خیرن خیرن لاسونه دي
ژغ دځنځیرونو د زاریو آوازونه دي
لوېږي د پردو د مزدورپېښوته زولانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

خوب وینم رغیږي دکلوکلو زخمونه
ډک دي له مړونو واړه کلي لوی ښارونه
بیا په چکنونو ښایسته دي ګودرونه
بیا رغځور احساس غواړي مستۍته بهانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

خوب وینم وطن دی ګل سرخ دی شنه دښتونه دي
مستو سترګو ورېځو ورولي سره ګلونه دي
پورته له ګل څانګو د مرغیو آوازونه دي
هیره په وصال کې د بیلتون ده افسانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

خوب وینم دلوړو غرو پر سر واورې ویلیږي
خوځنده سیلونه په سیندونو کې مستیږي
سر وهي له ګارو هم څښنمبري هم نخیږي

ناڅي يې څپې د جالوان پرسترانه ـ
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

خوب وینم عزوب مرغلین کړي دي د ښستونه
ځل وهي شغلوکې د سپېدار لاندې برگونه
بریښي دکوترو د سپلو ښو وز رونه
څرخي ولي ولي کاشانه پر کاشانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

ما یې تعبیر کړی دی داخوب مې رښتیا کیږي
نور د ولسونو د ښامار ستوني چیریږي
زیری مې د رباندې زموږ جونگړه ابادیږی
گرزو یې په غرونو کې سرشاراو مستانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکړي مانه

عبدالله - غمخور -

دقربانووطن

جنګ دی د وطن په سر تېرشئ له سرونو نه
دی دنام ونګ خطر تېر شئ له سرونونه

ای د توریالوخانه ای د میړنو پلار ره
څوبه ګرځې در په در تېر شئ له سرونونه

دا د بې ننګه کوڅې نورې د لیدو نه دي
داغ دی د زخمي ځیګر تېرشئ له سرونونه

چاته سترګې اړوئ چاته اُمیدونه کړئ
زړه دی ټول پرهر،پرهر تېر شئ له سرونونه

ژوندکه دعزت نه وي مرګ پرې شرافت لري
لوی واړه شئ توره سپر تېر شئ له سرونونه

وخت د غلبلودی دا وخت د شاځلمودی دا
چیغه کړئ په سمه غر تېر شئ له سرونونه

مه ځئ امریکا ته نور تېرله اروپا نه شئ
وګټئ دا خپل دوتر تېر شئ له سرونونه

بیا غزنی په چیغو سر بیا د بت شکن وار دی
ټول وطن تنور-تنور- تېر شئ له سرونونه

جنګ د سپینو تورو د احمد کورله راغلی دی
ښکل کړئ د بابا خنجر تېر شئ له سرونونه

مروکه پاتي کېږو دا ننګ پوره کوو مونږه
وخېژئ د دار پر سر تېر شئ له سرونونه

چیغه د غیرت شئ بیا تندر شئ سیلاب شئ بیا-
ټول کړئ دا د هری تغر تېر شئ له سرونونه

کل عالم تماشاګوره ستا د قربانۍ کوي
ټول جهان خبر خبر تېر شئ له سرونونه

بندې نور بې گړئ بیا سپین سحر راتلونکی دی
زار د آزادۍ تر لمر تېر شئ له سرونو نه

د املي غرور او افغاني شان و شوکت زمونږ
نه مني بل سر پر سر تېر شئ له سرونو نه

سمونه !

محترمو لوستونکو !

د «جهاد پلوشه» په تېره گڼه کې سهواً د محترم عبدالباري جهاني «د حق ننگه هلمنده !» تر سرلیک لاندې نظم د محترم فقیرالله «درویش» په نامه نشر شوی دی.

د مجلې اداره نوموړی نظم د محترم عبدالباري جهاني په نامه سموي او د شوې سهوې له امله بخښنه غواړي

په درنښت

فدای قوم افغان میشوم من

چهار بیتی :

به قربانت شوم ای کابل من
که از خاک تو شد آب گل من
به خارج من اگر صد سال باشم
طپایشن بهر تو دارد دل من

...

به قربان شمال آسمائی
که می بخشد بجان و دل صفائی
فدای ننگرهار و سیر لغمان
بقربانت وطن آخر کجائی

...

فدای قوم افغان میشوم من
به مردی پاره سازد قلب دشمن
به پیش همت والای این قوم
نه دگمن شب اسکند کار و نه پلتن

...

ز آمو تا به خیبر چه غوغاست
کهستان نمایان در چپ و راست
نترسید از تفنگ و توپ دشمن
خداوند توانا همره ماست

...

اگر طفل و اگر پیر و جوان است
همه در راه آزادی دوان است
ز ضرب تیغ افغان قوم لیسن
بسوی مرگ و گورستان روان است

خدا باشد به افغان یار و یاور
که تا شرمنده گردد روس کافر
کنر تا پکتیا از لاله رنگین
زخون آن شهیدان دلاور ـ

...

زغزنی تا هری رود و بدخشان
ز لوگر تا به پنجشیر و سمنگان
برای حفظ کشور خون بریزد
بدنیا تازه سازد نام افغان

...

ز بهسود و تگانه تا ارزگان
ز زابل تا به فاریاب و شبرغان
شمالی تا به پغمان و للندر
رسانده روس مشرک را به گریان

به پنجشیر است صدها شیر غران
هزاره گشته الحق مرد میدان
سلاح گرم ما ایمان و دین است
هزاران آفرین بر قوم افغان

...

اراکوزی و لغمان تا به وردک
سرپل تا شبرغان و حصارک
تمام کشور افغان بخون است
ز دست روس بی ناموس بدرگ

...

بهار آمد چمن ها لاله زار است
وطنداران روان سوی مزار است
علی شیر خدا برخیز از جای
تجلی کن که وقت ذوالفقار است

جوانان وطن الله اکبر
بگویید و کنید حمله به کافر
بکن مردانگی امروز ورنه
بگردی چون بخارا زار و نوکر

فریاد هندوکش

آمد غریو ناله ز اسپین غر بلند
هم شد ز هندوکش و تور غر نوا

نام وطن بود که ترا سکند خطاب
غافل شدی ز کشور و مغرور عیش ها

تا کی فغان و ناله مردم شود بلند
تا کی تو غافلی ز غم و درد این وطن

دشمن بهر طرف به کمین تو دام کرد
لیکن تو مست و سرخوش میخانه ها شدی

آن افتخار پارچه شد نام ما چه شد
نی غزنه ماند و بلخ و نه آن فتح سومنات

محمود و اشرف و احمد شه ات چه شد ؟
ای بیخبر ز خود چسان ناخلف شدی

مردم به اوج ماه و من تو به قعر چاه
از فقر دست گدایی کنی دراز

برخیز خواب بس است ای عزیز من
همت نما که نیست دگر فرصتی بما

نامه‌های وارده

لیکونه

محترم ورور حکمت الله جان د زابل ولایت د شاه جوی له ولسوالۍ څخه

ستاسو له لوړو احساساتو څخه په منني سره تاسو ته اطمینان درکوو چې له دې وروسته به ستا د معقول انتقاد د مثبت جواب له مخې انشاءالله مجله میاشت پر میاشت او پر ټاکلي وخت له چاپه راباسو!

ګرانه وروره – موږ هم ځینې مشکلات لرو چې البته پر دغو مشکلاتو برلاسه کیدل د ومره اسانه کار نه دی، وسایل محدود دي – وطن پردی دی او د قلم خاوندان هم د خوش مزه روږو په مقابل کې له موږ څخه پردي دي.

د تل لپاره ستا د قلمي رابطې په هیله.

خور جمیله حبیبی د کوېټې له سټیلایټ ټاون څخه

موږ له دې وروسته کوشش کوو چې، ستاسو پر ټاکلي ادرس باندې مجله درولېږو. البته موږ هم په دې هڅه کې یو چې د خویندو لپاره جلا یوه صفحه مختصه کړو.

داچې که مجله کمپوزینګ او ټایپ شي ښکلا او صحافت به یې دوه چنده شي.

موږ هم په دې باب تصمیم درلود چې همداسې وکړو، خو زموږ وسایل نهایت محدود دی. البته په راتلونکي وخت کې به په دې هکله لازم تدابیر تر غور لاندې ونیسو.

له خط رالیږلو څخه مو مننه او کور ودانی.

برادر گرامی نیازمحمد بارکزای از بولان میډیکل کالج کوټته

ارزوها و تمنیات نهایت گرم ما نثار تان باد.

برادر گرامی - ماچندین بار کوشش کردیم که تیراژ مجله را زیاد نمایم - چون امکانات مالی ما خیلی ها محدود است. فلهذا تصمیم خود را عملي کرده نتوانستیم - باز هم ما سعی و عمل را به کار خواهیم بست تا به کوټته مجله را ازین تعداد زیاد ارسال نمایم.

به ارزوی همکاری قلمی تان!

ورور صوفي عبدالغفور له چمن څخه -

ستاسو لیک مو سرترپایه ولوست!

زموږ کوشش دا دی چې د شهیدانو د پیژندلو لپاره د مجلې ترڅنګ ځانګړی ضمیمه خپره کړو - موږ تراوسه پورې د اتو سوو (۸۰۰) شهیدانو ورو څو پیژند پاڼې او عکسونه په لاس کې لرو چې د یوې مجلې او یا هم دوو درېو مجلو په صفحو او پاڼو کې ځایول مشکل کار دی.

انشاء الله تعالی موږ به په دې نژدې ورځو کې ستاسو د شهیدانو ضمیمه چاپ کړو.

له لیک رالیږونکو مومنانو، کوروډان.

د ویرگران او مجاهد ورور ملا نور گل اغا له ارغستان څخه

سلامونه دی وعلیک ....

متاء سفانه چې موږ د سید مرچ اغا په باب نه معلومات لرو او نه یې عکس شته چې درته نشر یې کړو، او که وی هم د سید مرچ اغا په هکله داسې اطلاعاتي موضوع نلرو چې د هغه د عکس چاپ ته اړیکې ور سره ولري.

ستاسو له ښه احساس څخه ډیره مننه.

دجهاد پلوشې محترمو مسئولینو ، السلام علیکم !

دجهاد پلوشه هره میاشت له یوې بلې خوا څخه په لاس راورم رښتیا چې یوه په زړه پورې مجله ده او زموږ دحق جهاد انعکاس په ښه توګه پکې کېږي . نن مې ددې مجلې اتمه ګڼه ترلاسه کړه او اول تر اوله مې د " روسي مظالمو داستان " سرتر پایه ولوست ، حقیقتاً چې دروس د ظلمونو نمونې چې زموږ په مسلمان ملت یې کوي پکې بیان شوې دي .

دمجلې دپوښ په وروستي مخ د دوو بې ګناه ماشومانو دتصویرونو په کتلو مې سترګې را ډکې شوې چه دروس دجنګي ماشین پواسطه ژوبل شوي دي . آیا موږ به د روس او دهغه دګوډاګي نوکرانو دا ظلمونه چې زموږ پر بې دفاع ملت یې کوي هېرکړو ؟؟؟ نه چېرې هم نه !!! ددې مظالمو بدلا اخیستل زموږ پر هر مسلمان وګړي فرض دئ .

په پای کې زموږ جهادي مشرانو ته درخواست کوم چه د قطبي خوګانو څخه دخپل مظلوم ملت د ژغورنې په خاطر سره یوموټی شي ترڅو چه د ښمن تر پخوا زیات ذلیل او افغانستان ورته یو تاریخي قبرستان جوړ شي .

په ډېر درنښت

ستاسې ورور حبیب جان

DE

Jehad Palwashah Monthly

Editor : Esmat Qani

Published By :

Southwest Provinces of

Afghanistan

G.P.O. Box 345 Peshawar, Pakistan

دوروستي پښتي شرح

دکندهار دمحله جات زړه ور قومندان
سید یعقوب آغا چې په دې ورستیو
وختونو کښې یې له دښمن سره په
جګړه کښې خپله سترګه له لاسه
ورکړه

DE
JEHAD PALWASHAH

G.P.O. BOX 345
PESHAWAR - PAKISTAN

Vol. 1
No. 9 — 10